# بانک

د افغانستان بانك مياشتنۍ مجله

شپاړسم کال، ۱۸۹ مه ګڼه د ۱۴۴۴ کال رمضان المبارک ( ۱۴۰۲ وري) میاشت


# په ۱۴۰۱ کال کې د افغانستان بانک

## د لاسته راوړنو رسنیز کنفرانس



# هموطنان عزیز!

پول افغانی یکی از ارزشهای ملی ماست، برای ارجگزاری به این ارزش ملی، مسؤلیت همه ماست تا در معاملات پولی روزانه، جهت حفظ و نگهداشت بهتر آن از بکس جیبی استفاده نمائیم.



# بانک

## لړلـــــیک / فهرست

| لړلـــــیک / فهرست | مخ |
|---|---|
| د افغانستان بانک د یو خبري کنفرانس له لارې خپلې د ۱۴۰۱ کال لویې... | ۲ |
| مختصری در زمینه تطبیق سیاست های پولی افغانستان | ۴ |
| د ملګرو ملتونو د پایدارو پراختیایي موخو ملاتړ لپاره اسلامي مالي محصولاتو ... | ۶ |
| چرا بهای مواد خوراکی در ماه مبارک رمضان افزایش می یابد؟ | ۹ |
| د کورني ناخالص تولید (GDP) پېژندنه، اهمیت او د افغانستان کورني ناخالص... | ۱۲ |
| نقش سرمایه گذاران در باز سازی افغانستان پس از جنگ | ۱۵ |
| اقتصادي خبرونه | ۱۷ |
| معرفی بورس و تاثیرات آن بر تجارت و اقتصاد | ۱۹ |
| د هیواد په اقتصادي پراختیا کې د نړیوالې سوداګرۍ ارزښت | ۲۲ |
| د بانکوالۍ ګټور او مروج اصطلاحات | ۲۶ |
| مالي سیستم او بازارونو ته یوه لنډه کتنه | ۲۸ |


د امتیاز خاوند: د افغانستان بانک

کتنپلاوی: صدیق الله خالد، احمد جواد سداد، مفتي عبدالله آخندزاده
او خواجه عصمت الله ځلاند

سرلیکوال: شفیق الله بارز

مسئول مدیر: انور الله حیات

خبریالان: سید خالد خالقیار او عبدالحفیظ شاهین

ډیزاین: خالد احمد فیضي

فوټوژورنالیست: زیرک ملیا

د وېش مسؤل: نصرت الله احمدزی

د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

پته: د افغانستان بانک

ټلیفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

برېښنالیک: magazine@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af

د ثبت ګڼه: ۶۵۸



د مضمونونو او مقالو مسئولیت د لیکوالانو پر غاړه دی. د مجلې د مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.

مسئولیت مضامین و مقالات به نویسنده‌گان آن بر می گردد. استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.



Da Afghanistan Bank-Youtube   twitter.com/AFGCentralbank   www.facebook.com/AFGCentralbank

# د افغانستان بانک د سرپرست رئیس پیغام

درنو هېوادوالو!

یو ځل بیا هڅه کوم چې د معقولو پولي سیاستونو په پلي کولو سره چې د اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د ارزښت ساتلو او کورنیو بیو د ثبات لامل کېږي خپلې هلې ځلې جاري ساتو او همدارنګه د بانکي نظام د ټینګښت او په دې سکتور کې د سمونونو راوستلو او لا ښه والي لپاره به کوټلي ګامونه پورته کړو.

له سیاسي بدلون وروسته د هغو محدودو بانکونو سره چې تر فشار لاندې دي په ټول ځواک کار کوو او پر هغوی به زموږ څارنه د ملاتړ په ډول وي، تر څو بانکي نظام لا پیاوړی او د خدمتونو کچه پراخه او با کیفیته شي.

د عنعنوي بانکدارۍ نظام څخه اسلامي بانکدارۍ نظام ته اړول زموږ د کاري لومړیتوبونو څخه دي، په دې برخه کې لومړني ګامونه پورته شوي، د مالي، بشري او سیستمونو ظرفیت ته په کتلو سره به یې قدم په قدم څارنه وکړو.

همدارنګه د افغانستان بانک د بانکي اړیکو د پراختیا او پرمختګ په برخه کې د نړۍ له هېوادونو او ادارو سره د تعامل له مخې پر خپلې ژمنې ولاړ دی او د اړیکو د لا ښه والي لپاره چې د هېوادوالو د هوساینې، خصوصي سکتور او د اقتصادي ودې لامل کېږي، هڅې جاري وساتي.

د افغانستان بانک د هېواد د مرکزي بانک په توګه پر خپلو نړیوالو ژمنو ولاړ دی، موږ د پیسو وینځلو او د ډالرو د قاچاق پر وړاندې مبارزې ته جدي پاملرنه کوو او د امنیتي او قضایي ادارو په همکارۍ به دې مهمې مسئلې ته رسیدنه وکړو.

د صرافیو او د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د کړنو تنظیمول زموږ لپاره بله ستراتیژیکه مسئله ده او دې موضوع ته به په پوره جدیت سره ګډ کار ته دوام ورکړو.

د افغانستان بانک د کنګل شوې شتمنۍ بېرته عادي حالت ته راوړل او د قانون په رڼا کې د هغه کارولو لپاره له نړیوالو شریکانو سره خپلو تخنیکي بحثونو ته د مطلوبو پایلو تر ترلاسه کولو پورې دوام ورکوو.

د دې پروګرامونو د پلي کولو لپاره له الله جل جلاله څخه د عمل کولو د توفیق غوښتونکي یو.

په درنښت

**الحاج هدایت الله بدري**

**د افغانستان بانک سرپرست رئیس**

# د افغانستان بانک د یو خبري کنفرانس له لارې خپلې د ۱۴۰۱ کال لویې کړنې او لاسته راوړنې له خلکو سره شریکې کړې



۱۴۴۴د رمضان المبارک ۱۴- د افغانستان بانک د روښتیا او حساب ورکونې د اصل په پام کې نیولو سره د یو خبري کنفرانس له لارې چې د حکومت د رسنیو په مرکز کې جوړ شوی وو، د ۱۴۰۱ مالي کال عمده کړنې او لاسته راوړنې له رسنیو او د هغوی له لارې له درنو هېوادوالو سره شریکې کړې.

په پیل کې د افغانستان بانک د پولي سیاست لوی آمر ښاغلي احمد جواد سداد د افغانستان بانک د موخو، ماموریت او بنسټیزو دندو په تړاو خبرې وکړې او ۱۴۰۱ مالي کال یې د افغانستان بانک لپاره د لاسته راوړنو کال وباله.

ښاغلي سداد زیاته کړه چې د احصائیې او مالوماتو د ملي ادارې د وروستیو شمېرو پر بنسټ د انفلاسیون نرخ د ۱۴۰۱ کال د سلواغې په میاشت کې ۳.۵ سلنې ته رسیده، حال دا چې د تېر کال په ورته موده کې دا نرخ ۱۵.۳ سلنه وو. په ورته وخت کې د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ ارزښت ۱.۰۱ سلنه زیاتوالی موندلی دی؛ په داسې حال کې چې د ۱۴۰۰ ه ش کال په اوږدو کې د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ ارزښت ۱۳.۸۶ سلنه کموالی ښیي.

ورپسې د بازار عملیاتو لوی آمر ښاغلي محمد عباس سامح د افغانستان د اسعاري زېرمو د محدودې برخې چې ورته

لاسرسي لرو، د اغېزناکه مدیریت په تړاو خبرې وکړې او زیاته یې کړه چې د معقولو سیاستونو په پلي کولو سره توانیدلي یو د هېواد اسعاري اړتیاوې تأمین کړو.

ښاغلي سامح د افغانستان بانک له هڅو او د هېواد اسعاري زېرمو ته د بشپړ لاسرسي لپاره له نړیوالو سازمانونو سره د تخنیکي بحثونو خبر ورکړ او هیله یې څرګنده کړه چې دې چارې ته لاسرسی به د هېواد په مالي او بانکي نظام کې د پام وړ پرمختګونه رامنځته کړي.

د دې کنفرانس په بله برخه کې د افغانستان بانک د اسلامي بانکوالۍ او مالي خدمتونو لوی آمر ښاغلي ډاکټر محمد یوسف سلیم د بانکي نظام د مدیریت او ښه والي، د بانکي قوانینو او مقررو د بیا کتنې او د هېواد له اقتصادي شرایطو سره د هغه د عیارولو، د سوداګریزو بانکونو د کړنو د دوامدارې څارنې او په دې بانکونو کې له شخصي حسابونو څخه د پیسو د ترلاسه کولو د محدودیتونو د له منځه وړلو په موخه د درې کلن ستراتیژیک پلان د ترتیبولو په تړاو خبرې وکړې.

ښاغلي ډاکټر سلیم د هغو ګټورو بحثونو چې د ۱۴۰۱ مالي کال په اوږد کې له نړیوالو شریکانو سره د بانکي اړیکو او نړیوالو لېږدونو د ښه والي په اړه ترسره شوي وو، یادونه وکړه او د امریکا متحده ایالاتو د خزانداري وزارت ۱۴، ۱۵، ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۱۹ او ۲۰ شمېرو عمومي جوازونو ته لاسرسی یې چې د هېواد د اړتیا وړ لومړنیو توکو د واردولو په موخه د پولي لېږدونو د اسانتیا لامل شوی، ستره لاسته راوړنه یاده کړه.

نوموړي د خپلو خبرو په بله برخه کې په هېواد کې د اسلامي بانکوالۍ پراختیا او پرمختیا یوه بنسټیزه اړتیا وبلله او ټینګار یې وکړ چې د افغانستان بانک د تېر کال په اوږدو کې اغېزناکې هڅې کړي چې له ډلې یې کولای شو د صکوکو د قانون د لومړنۍ مسودې چمتو کولو، په اسلامي بانک د کوچنیو پورونو د لومړني بانک بدلولو او د اسلامي بانکوالۍ محصولاتو ته د څو لارښودونو او کړنلارو نهایي کولو ته اشاره وکړو.

په پای کې د افغانستان بانک د غیر بانکي مالي مؤسسو د څارنې لوی آمر ښاغلي احمد ظاهر ناصرزي د غیر بانکي مالي مؤسسو لکه صرافیو، پولي خدمتونو وړاندې کوونکو، د برېښنایي پیسو مؤسسو، د اجارې مؤسسو او اداینیزو مؤسسو د کړنو د تنظیمولو په اړه خبرې وکړې.

ښاغلي ناصرزي د دې سکتور د کړنو تنظیمولو لپاره د یوې هر اړخیزې طرحې د جوړولو یادونه وکړه چې د افغانستان اسلامي امارت د قدرمنې کابینې لخوا منظوره شوې چې په رڼا کې یې د صرافۍ او پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو له ۲۵۰۰ څخه زیات انفرادي جوازونه لغوه شوي او په بدل کې یې د صرافیو او پولي خدمتونو وړاندې کوونکو شرکتونو ته په نویو معیارونو برابر ۸۷۶ شرکتي جوازونه ویشل شوي دي. په همدې ترتیب د صرافیو او پولي خدمتونو پر شرکتونو د بندیزونو د نوملړ برېښنایي کول، د غیر قانوني صرافیو په ګوته کولو او د دوی د کړنو د بندولو په موخه د اړوندو ادارو ترمنځ د ګډې کمېټې جوړول، د ۷۰۰ څخه زیاتو غیر قانوني صرافیو پېژندل او د تنفیذي اقداماتو ترسره کول او د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو پر وړاندې مبارزه نورې هغه لاسته راوړنې دي چې د افغانستان بانک د ۱۴۰۱ مالي کال په اوږدو کې ترلاسه کړې دي.

د افغانستان بانک د روڼتیا او حساب ورکونې دا رسنیز کنفرانس د هېواد د ټولیزو رسنیو د استازو په پوښتنو او د افغانستان بانک د مسؤلینو په ځوابونو سره پای ته ورسېد.







# مختصری در زمینه تطبیق سیاست پولی در افغانستان

سیاست پولی بکارگیری تدابیر و اقدامات مقامات پولی به منظور کنترول عرضه پول برای بدست آوردن هدف مشخص در اقتصاد میباشد. هدف اولیه سیاست پولی در افغانستان دستیابی به ثبات قیمتهای داخلی است. برای رسیدن به این هدف، دافغانستان بانک کنترول عرضه پول در اقتصاد را بهترین و عملی ترین روش میپندارد. از اینرو، د افغانستان بانک به عنوان مجری سیاست پولی کشور با پیروی چارچوب هدفگذاری متحولهای پولی،

پایه پولی و پول در دوران را به عنوان اهداف مقداری زیر نظر دارد. بر علاوه د افغانستان بانک جهت مهار نوسانات نرخ اسعار در مقابل پول افغانی از رژیم ارزی متحول مدیریت شده استفاده بعمل می آورد. بنابراین د افغانستان بانک برای تطبیق سیاستهای پولی و ارزی خویش از ابزارهای عملیات بازار باز و ذخایر الزامی بانکهای تجارتی استفاده بعمل آورده است.

یکی از اهداف اساسی اکثر بانکهای مرکزی کشورها را ثبات قیم شکل میدهد. چون ثبات قیم باعث افزایش اعتماد مردم به اقتصاد، بهبود شرایط کسب و کار، کاهش هزینه های تولید و افزایش رقابت پذیری در سطح کشور میشود. بانکهای مرکزی معمولاً با استفاده از روشهای مختلفی مانند کنترول نرخ بهره، تأمین پول و کنترول عرضه پول سعی میکنند تا ثبات قیم را تضمین نمایند. در این میان، د افغانستان بانک با کنترول عرضه پول در اقتصاد تلاش میکند تا قدرت خرید مردم را حفظ نماید.

د افغانستان بانک با پیروی از چارچوب هدفگذاری متحولهای پولی، عرضه پول را در سطح کشور هدف قرار میدهد. د افغانستان بانک اهداف مقداری را برای رشد پایه پولی و پول در دوران به عنوان عرضه پول پیشبینی میکند. د افغانستان بانک برای پیش بینی شاخص های پولی، شرایط اقتصادی کشور، چارچوب کانالهای اساسی و مؤثر تقاضای پولی، برنامه مالی دولت (عواید و مصارف بودجوی)، چشم انداز رشد اقتصادی و سطح عمومی قیمتها در کشور را معیار قرار میدهد.

نرخ اسعار در مقابل پول افغانی تحت رژیم ارزی متحول مدیریت شده ذریعه نیروهای عرضه و تقاضا در بازار اسعار تعیین گردیده و د افغانستان بانک برای جلوگیری از پیامدهای ناگوار نوسانات آن بالای قیم در بازار مداخله می کند.

د افغانستان بانک در حال حاضر کنترول عرضه پول و نوسانات اسعار را با استفاده از ابزارهای لیلام اسعار و ذخایر الزامی بانکهای تجارتی تنظیم میکند. لیلام اسعار یکی از زیر ابزارهای عملیات بازار باز میباشد که از طریق پروسه مزایده آزاد و بطور شفاف با اشتراک بانکهای تجارتی و صرافیهای مجوز صورت میگیرد. لیلام اسعار به عنوان مؤثرترین وسیله سیاست پولی در مهار اضافه نقدینگی در بازار نقش برازنده دارد. برعلاوه، بانکهای تجارتی مکلف اند تا فیصدی از امانات مردم را به عنوان ذخایر الزامی نزد د افغانستان بانک نگهدارند. ذخایر الزامی نیز یکی از ابزارهای سیاست پولی میباشد، اما با توجه به کوچک بودن سیستم بانکی در افغانستان این ابزار در کنترول عرضه پول کمتر اثرگذار می باشد.

در یک جمع بندی کلی با تطبیق سیاست پولی و ارزی توسط د افغانستان بانک در بیشتر از یک سال گذشته دامنه نوسانات نرخ اسعار در مقابل پول افغانی کاهش یافته و قدرت خرید نسبی مردم دوباره احیا گردیده است.

نویسنده: محمد شعیب رشیدی
موقف: مدیر ارشد سکتور پولی
آمریت عمومی سیاست پولی

---


منابع و مأخذ:

1. https://dab.gov.af/Monetary-Policy-Frame-work
2. https://dab.gov.af/Exchange-Rate-Policy
3. https://dab.gov.af/about-monetary-policy

# د ملګرو ملتونو د پایدارو پراختیایي موخو ملاتړ لپاره اسلامي مالي محصولاتو ته زیاته تقاضا

دا مقاله د بانکر مجلې څخه ژباړل شوې ده چې د دې مجلې د ۲۸/۰۲/۲۰۲۳ نېټې په ګڼه کې خپره شوې او د ملګرو ملتونو د پایدارو پراختیایي موخو او د اسلامي مالي محصولاتو ترمنځ تړاو په هکله یې بحث کړی. د ملګرو ملتونو پایداره پراختیایي موخې هغه نړیوالې ننګونې په ګوته کوي چې خلك ورسره مخ دي پدې کې ۱۷ ننګونې او د دې ننګونو د منځه وړلو موخې شاملې دي چې کولای شو دلته د بېلګې په توګه د بې وزلۍ، نابرابرۍ، ولږې، د اقلیم بدلون، د چاپیریال تخریب، سولې او عدالت یادونه وکړو. په دې مقاله کې د یادو موخو په ترلاسه کولو کې د اسلامي مالي محصولاتو د غوره اغېز په تړاو بحث شوی دی. څېړنې ښيي چې اسلامي بانکوالي د فقر او نابرابرۍ په کمولو او د عدالت په تامینولو کې، چې د ملګرو ملتونو د پراختیایي موخو څخه دي، مثبت رول درلودلای شي.

د اسلامي بانکونو انفرادي پیرودونکو ترمنځ ترسره شوې د یوې نړیوالې نظر پوښتنې پایلې ښيي چې ډېری پېرودونکي له خپلو بانکونو غواړي چې د ملګرو ملتونو له پایدارو پراختیایي موخو سره سمون لرونکي محصولات وړاندې کړي او همدا ډول د دې نظر پوښتنې ډېری ځواب ویوونکي د بیمې حق ورکولو ته هم چمتو او لېواله دي.

ډېری اسلامي بانکونه له ډېرې مودې راهیسې د اسلامي اقتصاد او د شریعت سره سمو مالي چارو پر اخلاقي اړخ ټینګار کوي چې د ټولنیز اقتصادي مالي تمویل پر بنسټ ولاړ دي. د بېلګې په توګه، اسلامي اقتصادی و ډېر پیاوړی ټولنیز عنصر لري او مسلمانان اړ دي چې د خپلو عوایدو ۲.۵ سلنه د زکات په توګه اړمنو خلکو ته ورکړي.

اوسمهال هم د ملګرو ملتونو د پایدارو پراختیایي موخو ملاتړ ته په پراخه کچه د اسلامي مالي محصولاتو سره تړاو ورکولو ته فرصت شتون لري چې په دې توګه کولای شو له اخلاقي پلوه د ټولو دینونو سره تړاو لرونکي پیرودونکي جذب کړو.

په همدې تړاو د ګیټ هاوس بانک اجرائیوي رئیس چارلس هارسنیپ، د شریعت مطابق یو بریتانیایي پور ورکونکي د



بانکر مجلې ته وویل، "د شرعي اصولو او د اخلاقي او پایدارې بانکوالۍ د اړانو ترمنځ طبیعي مطابق شتون لري."

د راکیات بانک پخوانی رئیسې، نوریپا کامسو له بانکر مجلې سره په یوې مرکه کې ویلي چې "د اسلامي مالي چارو په اړه زموږ د فکر کولو څرنګوالی د ګډو معیارونو په تړاو مونږ یووالی ته هڅوي چې دا چاره کولای شي په ټولو اسلامي مالي سکتورونو کې د چاپیریال ساتنې، ټولنیزو چارو او حکومتولۍ په برخو کې د پانګونې پایدارو مسؤلانه اغیزو ته وده ورکړي. زه باور لرم چې ډېره به منطقي وي چې مسؤلانه او د پایدارې پراختیایي مالي کړنلارې لکه چاپیریال ساتنه، ټولنیزې چارې او ښه حکومتوالي(ESG) د تعامل د رامنځته کولو لپاره د یو ابزار په توګه وکارول شي".

په ځانګړې توګه د چاپیریال ساتنې په برخه کې د نایجیریا د جایز بانک عامل مدیر او اجرائیوي رئیس حسن عثمان بانکر ته وویل: "دا د اسلامي مالي چارو یو بنسټیز اصل دی چې په داسې کړنو کې پانګونه ونکړي چې ټولنې ته زیان رسوي. نو د بېلګې په توګه ویلی شو هغه کړنې چې د چاپیریال ځینې عناصر له منځه وړي او د چاپیریال سیستم انډول خرابوي باید د اسلامي مالي مؤسسې لخوا تمویل نه شي."

د څلورو اسلامي بانکونو د خدمتونو پیرودونکو د وروستی نظر پوښتنې موندنې چې د انګلستان د اسلامي مالي چارو د شورا لخوا ترسره شوې، ښیي چې ۹۰ سلنه ځواب ویونکو یې له خپلو بانکونو څخه د هغو محصولاتو د وړاندې کولو غوښتنه کړې چې د ملګرو ملتونو له پایدارو پراختیایي موخو سره تړاو لري. په ورته وخت کې، د دې نظر پوښتنې له هرو ۱۰ کسانو ۷ یې ویلي چې له پایدارو پراختیایي موخو سره د مالي محصولاتو مطابقت به دوی د خپلو بانکي محصولاتو ډیر کارولو ته وهڅوي.

د یادونې وړ ده چې د دې نظر پوښتنې۸۷ سلنه ځواب ویوونکو ویلي چې دوی حاضر دي د ملګرو ملتونو له پایدارو پراختیایي موخو سره تړاو لرونکي محصولاتو لپاره په منځنۍ بیه (۴.۴) سلنه د بیمې حق تادیه کړي.

په دې څېړنه کې د مالیزیا د سوداګرۍ د نړیوالو سوداګریزو بانکوالانو(CIMB) ډلې، د بریتانیې ګیټ هاؤس بانک، د پاکستان حبیب بانک لمیټډ، د استرالیا اسلامي بانک او د نایجیریا جایز بانک د ۱۹۶۳ پیرودونکو نظرونه راټول شوي دي.

همدا ډول په دې نظر پوښتنه کې د مالي محصولاتو او خدمتونو ډولونه او د هغوی پیژندنه هم ازمویل شوې ده چې په پایله کې د نړۍ دشمالي او سویلي سیمو تر منځ توپیرونه لیدل شوي دي. د بېلګې په توګه، د ټولنیز اقتصادي مالي تمویل، د مضرو غازونود صفر کولو یا کمولو پروژو پورونو، له پایداره پراختیایي پانګونو سره د نړۍ د شمالي سیمو ځواب ویونکو خورا ډېر بلدیت درلوده، حال دا چې د ټولنیزو چارو او د چاپیرال ساتنې د اغیزو په پانګونه کې بیا د نړۍ د سویلي سیمو ځواب ویونکو اشنایي درلوده.

همدا ډول په دې هېوادونو کې له دوامداره پراختیایي موخو سره سمون لرونکو محصولاتو لپاره د اضافي لګښتونو د ورکړې په برخه کې توپیر شتون درلود. د دې نظر پوښتنې موندنې ښیي چې په سویلي سیمو کې۸۹ سلنه او په شمالي سیمو کې ۸۰ سلنه ځواب ویونکو د یادو محصولاتو په بدل کې اضافي لګښتونو ورکولو ته لېوالتیا ښودلې وه.د موندنو په پایله کې د نړۍ د شمالي او سویلي هېوادونو د ځواب ویونکو لخوا د اسلامي محصولاتو په بدل کې د اضافي لګښتونو د ورکولو کچه په ترتیب سره په منځنۍ ډول ۲.۵ سلنه او۵.۰ سلنه ښودل شوې ده.

په نظر پوښتنه کې تر ټولو په زړه پورې خبره دا ده چې ۶۴ سلنه ځواب ویونکو د اسلامي مالي چاروپه اړه د مالوماتو ترلاسه کولو لپاره له ټولنیزې رسنیو ګټه پورته کړې او دا رسنۍ یې د مالوماتو په ترټولو مشهورو سرچینو بدلې کړي دي. دهغو ځواب ویونکو له ډلې چې ټولنیزې رسنۍ یې کارولې، ۸۳ سلنه یې د اسلامي مالي محصولاتو په اړه د مالوماتو ترلاسه کولو لپاره فیسبوک کارولی. حال دا چې د نظر پوښتنې د موندنو په پایله کې فیسبوک د نړۍ په سویل کې د ټولنیزو رسنیو ترټولو مشهور پلیټ فارم او لینکډین (LinkedIn) بیا د نړۍ په شمال کې د ټولنیزو رسنیو تر ټولو مشهور پلیټ فارم ګڼل کېږي.

ژباړه: عین الله عیان،
د افغانستان بانک د ژباړې بورډ مدیر
(دا مقاله د بانکر مجلې څخه ژباړل شوې)



د افغانستان بانک به اصل تکنالوژی معلوماتی و عصر فناوری باورمند بوده و برای توسعه سیستم های تکنالوژیکی متعهد است. از همین جهت طی یکسال گذشته در زمینه حفظ و گسترش سیستم های تکنالوژی معلوماتی و تادیاتی تلاش های پیگیر نموده و ضمن حفظ سیستم های قبلی در قسمت پیاده نمودن سیستم های جدید دستاورد های قابل ملاحظه داشته است. یکی از این دستاورد ها دوباره فعال سازی سیستم ثبت حقوق رهنی بالای أموال منقول است که قبلاً قرارداد آن با هزینه حدود یک و نیم میلیون دالر با بانک جهان صورت گرفته بود و حفاظت آن سالانه مبلغ دو صد و پنجاه هزار دالر هزینه می برد، در حالیکه احیای مجدد این سیستم به ابتکار کادر های مسلکی بانک صورت گرفته، مالکیت آن به دست خود ما بوده و هیچ نوع هزینه ندارد.



# چرا بهای مواد خوراکی

## در ماه مبارک رمضان افزایش می یابد؟

**نویسنده: محمد کاظم سروری**

افغانستان از لحاظ اقتصادی در جمله کشور های روبه انکشاف میباشد، کشور های که در این خط اقتصادی قرار دارند، فرصت های اقتصادی را تحلیل و ارزیابی و آنرا به یک دست آورد مبدل می نمایند.

ماه رمضان نیز فرصت برای تقویت اقتصاد کشور است هرچندی که رمضان زمانی است برای تأمل معنوی، بازسازی و تقویت باور، اما تاثیر آن بر رشد و توسعه اقتصادی مهم بوده و از طریق سرمایه گذاری های خورد، کوچک و متوسط در تامین سلامت ثبات اقتصادی کشور، نقش مثبت دارد.فرصت های اقتصادی ماه رمضان از تجارت های خورد سرچشمه گرفته و تمام اقتصاد را در بر میگیرد، طوریکه خُرده فروشان مواد غذایی تقاضای محصولاتی بازار را تامین می کنند، شرکت های متوسط در تقویت مارکیت سهیم اند و شرکت های بزرک در تولید / واردات که از طریق سرمایه گذاران داخلی صورت میگیرد .

رمضان ماه فرصت ها است، در ماه رمضان سبد غذایی خانواده ها تغییر میابد، تغییر در خط مصرف، متغییرهای تامین زنجیره غذایی را

نیز در حرکت می آورد، یعنی تولید کنندگان، تامین کنندگان و عرضه کننده گان را تشویق به تمویل هرچه بیشتر مارکیت می نماید. افزایش تولید ناشی از افزایش تقاضا بوده و تقاضا در ذات خود باعث رونق مارکیت میگردد، ثبات مارکیت، ثبات اقتصادی را تامین می نماید و ثبات اقتصادی تاثیر مثبت بر زندگی اجتماعی دارد .

زمانیکه تقاضا به یک محصول بیشتر شود، نوسان در تغییر قیمت آن قابل پیش بینی است، از اینرو با افزایش تقاضا در ایام ماه مبارک رمضان، اندک نرخ مواد اولیه تغییر نموده و این افزایش نرخ معمولاً ناشی از تقاضای بیشتر جنس در یک محدوده زمانی نسبت به عرضه آن میباشد، که پدیده موقتی بوده و قابل انعطاف است.




طوریکه در گراف فوق نشان داده میشود قیمت گاز کاهش ۱۸ افغانی را در ماه رمضان شاهد بوده و تیل پطرول شاهد تغییر قیمت نیست، اما برنج و بوره تفاوت را نشان میدهد. دلیل اینکه گاز کاهش قیمت داشته، ناشی از تقاضای کمتر آن در ماه رمضان (گرم شدن آب و هوا)میباشد، تیل پطرول که معمولاً برای موتر و جنراتور ها قابل استفاده میباشد، حالت یکسان داشته ، اما بوره و برنج به دلیل تقاضا در ماه رمضان افزایش قیمت را نشان میدهد، حالا اگر نرخ ترکاری و سبزیجات را نیز در نظر بگیرم متوجه میشویم که این دسته از محصول که هر چند فیصدی بیشتر آن تولید داخلی است، افزایش قیمت دارد که ناشی از تقاضای بیش از حد میباشد. اهمیت اقتصادی درآنجا است که در ماه رمضان مارکیت افغانستان به اقلام مشخص ( آرد، برنج، روغن، لبنیات، سبزیجات و گوشت) ضرورت دارد، ایجاب می نماید تا روی تامین آن سرمایه گذاری گردد. بر علاوه رمضان فرصت معرفی محصول و تولیدات داخلی است، دولت ها با راه اندازی برنامه های بعد از افطار در تقویت کار و تجارت های کوچک کمک بیشتری نماید، همه علاقه دارند تا بعد از افطاری بیرون از منزل رفته و با خانواده های خویش خرید و یا غذا صرف نمایند.در کنار توسعه صنعت گردش گری، غذا های روی سرک و معرفی محصول افزایش می یابد، به اساس مطالعات انجام شده، غذا های روی سرک(street food)در امریکا طی سال ۲۰۲۱ تقریباً ۲.۲۹ میلیارد دالر امریکایی ارزش داشته است، به اساس این گزارش در سال ۲۰۲۲ارزش آن به بیش از ۲.۴ میلیارد رسیده است. در این ماه برخی از کشور ها چون مالیزیا ، اندونیزیا ، ترکیه و حتی روسیه سال هاست که اقدام به برگزاری جشنواره های رمضانی می کنند که از زمان افطار آغاز و با پذیرایی از گردشگران با غذاهای ویژه رمضان و به راه انداختن فرصت های متنوع از جمله بازار خرید و سرگرمی تا هنگام سحری ادامه می یابد. این فرصت اقتصادی بنابر نگرش، آداب و فرهنگ در کشور ماه بیشتر مساعد میباشد که در صورت فراهم شدن امکانات و فرصت های گردش گری و ایجاد مسیر غذا ها در مناطق مختلف، ضمن ایجاد اشتغال زایی، عواید بیشتر بر خزانه دولت ریخته شده و صنعت گردش گری در کشور، تقویت میگردد.

اقلام مصرفی و فرصت سرمایه گذاری: به اساس آمار های داده شده نهاد های رسمی افغانستان ( وزارت زراعت و اداره احصایه و معلومات)مواد خوراکی که بیشترین مصرف را دارد شامل نان، روغن، برنج، گوشت، چای، بوره، سبزیجات و میوه میشود که مقدار مصرف آن در گراف ذیل نشان داده شده است.




بر اساس آمارهای رسمی، افغانستان سالانه در حدود ۶ میلیون تُن گندم ، ۹۰۰ هزار تن روغن، حدود ۵۰۰ هزار تن برنج، بیش از حد گوشت که حتی موجب نگرانی سازمان‌های صحی در سطح جهان شده‌است. چای سبز و سیاه به پیمانه وسیع و ۱۵۰ هزار تن بوره

سالانه ضرورت دارد که بیشترین مصرف در ماه رمضان میباشد. در این میان سهم تولید داخلی کشور در حد ناچیز بوده و بیشترین این اقلام وارداتی میباشد. میوه تولید شده در افغانستان از کیفیت و مرغوبیت بهتر بر خوردار است، اما متاسفانه در نبود امکانات سرد خانه و امکانات نگهداشت بهتر آن، این محصولات به بیرون از کشور رفته و حین ضرورت دوباره با قیمت گزاف وارد مارکیت های کشور میگردد.

استقبال از عید: به اساس مطالعات منتشر شده، در کشور های که مسلمانان بیشتر و یا کمتر زندگی می نمایند، در ماه مبارک رمضان با خرید غذا، لباس، میوه خشک... ، سطح هزینه های خانواده ها بیشتر افزایش می یابد، محصولات خوراکی و پوشاکی مصرف بیشتر پیدا می کنند، تخمین زده می شود که هزینه ماه رمضان بیش از ۲۰۰ میلیون پوند تنها برای اقتصاد بریتانیا و میلیاردها دالر در سراسر جهان اسلام ارزش داشته باشد، که سهم کشور ما نیز در این میان کمتر نخواهد بود، سرمایه گذاری توام با تحقیق و مطالعه میتواند از این سهم به سود کشور و رفاه اقتصادی استفاده گردد.

در نتیجه ماه مبارک رمضان فرصت اقتصادی و تامین منابع مالی دولت ها را مساعد می نماید در صورتیکه زنجیره تامین تحت مطالعه قرار گرفته، اولویت ها شناسایی گردیده ، آسیب ها برطرف و موانع برداشته شود. در کشور عزیز ما نیز این ماه پر برکت رمضان فرصت ها و تأثیر بیشتر اقتصادی در تناسب به کشور های منطقه دارد. با انحصار مارکیت به وسیله اقلام وارداتی، تصادفی نیست که افزایش قیمت مواد غذایی و تقاضای بالای مواد غذایی در ماه رمضان همزمان سیر صعودی بپیماید. فرصت های سرمایه گذاری ایجاب مطالعه جنبه های مثبت و موانع اقتصادی می نماید، سطح درامد، سطح اشتغال زایی و میزان مساعد بودن زمینه کار از جمله موارد مهم است که حین فرصت های اقتصادی باید مورد مطالعه قرار گیرد. حدوداً ۹۰ فیصد از مارکیت افغانستان چه در حد سرمایه گذاری خُرد، کوچک و متوسط در دستان آن شمار از افرادی قرار دارد که فاقد دانش اقتصادی بوده و حتی خواندن و نوشتن را بلد نمی باشند. تجزیه و تحلیل و استفاده از فرصت جهت سرمایه گذاری، در بهبود سطح و رشد سرمایه یک نیاز حتمی در اقتصاد دانسته میشود که متاسفانه در بازار های کشور کمتر به آن توجه صورت میگیرد، به همین دلیل زمینه های سرمایه گذاری بنیادی از نزد سرمایه گذار و تجار از دست میرود که این امر یکی از عوامل اصلی کاهش میزان اشتغال زایی در کشور بشمار میرود. فرصت اقتصادی رمضان و تقاضای کالا در این ماه، ثابت می سازد که عدم رعایت و مطالعه دقیق از وضعیت و ابعاد اقتصادی بازار های کشور، سبب شده است که مزیت های اقتصادی رمضان در کشور بر میگردد به کشور های صادراتی و شرکت های تولیدی شان که افغانستان منحیث بازار مصرفی آنها، شمرده میشود.

در شرایطی که جهان در همه ابعاد، وارد رقابت فناوری گردیده، افغانستان هنوز هم متکی به واردات بلند بوده و به حیث بازار مصرفی، در تجارت جهان دیده میشود، تداوم این روند باعث میشود که شماری از اقتصاد های خورد و کوچک که نبض محرکه های اقتصادی کشور محسوب میشود، در فراز و فرود های بازار، ورشکست شوند. بناً نیاز است که رهکار های تولیدی و وارداتی بودن کشور، مورد مرور و مطالعه قرار گرفته و روی صادرات اقلام که در داخل کشور تولید آن مساعد باشد، محدودیت ها وضع و از صادرات اقلام تولیدی کشور که در گراف بلند ضرورت قرار داشته باشد، جلوگیری گردد. به تجار و کسبه کار اهمیت زمان و نیاز بازار تفهیم و در صورت ضرورت زمینه های مناسب را مساعد و با حمایت و مشوره دستگاه های مجرب و مسلکی، در تقویت روحیه سرمایه گذاری داخلی تلاش صورت بگیرد


منابع ماخذ:

1. https://www.ikim.gov.my/index.php/2021/04/23/ramadan-effect-on-the-economy/
2. https://khabarnama.net/blog/2018/04/09/high-used-food-in-afghanistan/
3. https://www.facebook.com/search/top/?q=%D9%86%D8%B1%D8%AE%20%D9%85%D9%88%D8%A7%D8%AF%20%D8%A7%D8%B1%D8%AA%D8%B2%D8%A7%D9%82%DB%8C
4. https://www.statista.com/statistics/1174427/street-vendor-industry-market-size-us/#:~:text=The%20street%20vendor%20sector%20in,over%20two%20billion%20U.S.%20dollars.

# د کورني ناخالص تولید (GDP) پېژندنه، اهمیت او د افغانستان کورني ناخالص تولید ته کتنه

کورني ناخالص تولیدات یا GDP د ټولو هغو توکو او خدمتونو پولي ارزښت ته ویل کیږی چې په یوه ټاکلې موده کې د یو هیواد دننه د کورنو او بهرنو پانګه والو په واسطه سره تولیدیږي. د وخت په تغیر سره د محصولاتو تغیر چې د GDP پر مټ اندازه کیږی، د یو هیواد د اقتصادي ښه والي لپاره د پام وړ معیار ګڼل کیږي.

**د کورني ناخالص تولید د ودې کچه یا GDP Growth Rate**

د کورنو ناخالصو تولیداتو د ودې کچه یا GDP Growth rate د یو کال څخه تر بل کال پورې او یا په ربعواره توګه د یو هیواد د اقتصادي محصولاتو تغیر محاسبه کوي، تر څو دا معلوم شي چې د یو هیواد اقتصاد په څومره چټکۍ سره وده کوي. دا تغیرات عموماً په فیصدۍ سره ښودل کیږي، دا اندازه ګیرنه د اقتصادي‌پالیسي جوړوونکو لپاره ډیره د اهمیت وړ ده ځکه چې د کورنو ناخالصو تولیداتو وده د پالیسي جوړوونکو د موخو یعنې انفلاسیون او د بیکارۍ کچې سره نږدې اړیکې لري.

**د سړي سر عاید یا GDP Per Capita**

کله چې د یو هیواد د کورنو ناخالصو تولیداتو ارزښت چې د پیسو په بڼه لاسته راځي د اړوند هیواد د وګړو پر شمیر باندې و ویشل، کوم حاصل چې ترلاسه کیږي هغه ته د سړي سر عاید یا GDP Per Capita وایي.

**اسمي او حقیقي کورنی ناخالص تولید**

کورنی ناخالص تولید په دوو برخو یعنی اسمي کورنی ناخالص تولید او حقیقي



کورنی ناخالص تولید وېشل شوی دی.

**اسمي کورنی ناخالص تولید:** اسمي کورنی ناخالص تولید د هغو توکو او خدمتونو د ټولیز ارزښت څخه عبارت دی چې د بازار په اوسني نرخ محاسبه شوی وي.

**حقیقي کورنی ناخالص تولید:** حقیقي کورنی ناخالص تولید د هغوتوکو او خدمتونو د ټولیز ارزښت څخه عبارت دی چې د یو هیواد د تولید شوو توکو او خدمتونو ارزښت د اساس کال پر بیو محاسبه کړل شي.

حقیقي ناخالص تولید یا Real Gross Domestic Products د اسمي ناخالص تولید یا Nominal Gross Domestic Product په پرتله په دقیق ډول په اقتصاد کې د محصولاتو اندازه منعکسوي. د حقیقي ناخالص تولید اندازه ګیرنه انفلاسیوني او ډیفلاسیوني تغیرات او د تبادلې د نرخ ټیټوالی او لوړوالی له منځه وړي او دا واضح کوي چې څرنګه د یو هیواد ټولیزو حاصلاتو د یو کال څخه تر بل کاله زیاتوالی یا کموالی موندلی دی.

**د کورني ناخالص تولید اندازه ګیرنه**

کورني ناخالص تولیدات په ۳ مختلفو طریقو سره اندازه کیدلاي شی.

۱: د تولیداتو د اندازه ګیرنې تګلاره

۲: د لګښتونو د اندازه ګیرنې تګلاره

۳: د عوایدو د اندازه ګیرنې تګلاره

۱: د تولیداتو د اندازه ګیرنې تګلاره:په دېتګلاره کی د تولیداتي سرچینو د تولید شوو تولیداتو (توکو او خدمتونو) ارزښت سره جمع کیږي او هغه مصارف چی د تولید شوو توکو او خدمتونو لپاره ترسره شوی وي (تولیدي لګښتونه) ترې منفي کیږي، د مثال په ډول د ډوډۍ د تولید لپاره د وړو لګښتونه.

۲: د لګښتونو د اندازه ګیرنې تګلاره: په دې تګلاره کی د یو هیواد د ټولو افرادو ټولیز لګښت سره جمع کیږي، د بېلګې په ډول: د کورنیو لپاره د خواړو، طبي خدمتونو او تلویزیوني خدماتو لګښتونه، د فابریکو لخوا په ماشینری کی پانګونه او د دولت یا بهرنیانو له لوري د توکو او خدمتونو د ترلاسه کولو لپاره لګښتونه، دا ټول یو د بل سره جمع کیږی او مجموعه یی د یو هیواد کورنی ناخالص تولید جوړوي.

۳: د عوایدو د اندازه ګیرنې تګلاره: په دې تګلاره کی ټول هغه عواید چې افراد یی د مزد یا معاش له لارې او متشبثین یا د فابریکو خاوندان یی د خپلو حاصلاتو د پلورلو څخه ترلاسه کوي، سره جمع کیږی، او مجموعه یی د کورني ناخالص تولید د حاصل په توګه څرګندیږي.

**د اقتصاد پوهانو او پانګوالو لپاره د کورني ناخالص تولید اهمیت**

کورنی ناخالص تولید د پانګوالو او اقتصادپوهانو لپاره یوه مهمه اندازه ګیرنه ده، ځکه چی دا اندازه ګیرنه په عمومي توګه د یو هیواد د اقتصاد بدلونونه تعقیبوی، سربیره پردې چی کورني ناخالص تولیدات د یو هیواد د اقتصادي صحت اندازه ګیرنه کوي، بلکی هغه عوامل هم روښانوي چی د اقتصادي ودې د راتلو او دوام لامل کیږي.

د کورني ناخالص تولید اندازه ګیرنه ځکه مهمه ده چی په عمومي توګه د اقتصاد د حجم یا اندازې په اړه معلومات ورکوي او یا دا چی د یو هیواد د اقتصادي کړنو ارزونه کوي. د حقیقی ناخالص تولید د ودې کچه یا Real GDP Growth Rate کله نا کله د عمومي اقتصادي صحت د شاخص په توګه کارول کیږي، یا په بله اصطلاح د حقیقي ناخالص تولید زیاتوالی د دې ښنه ده چې د هیواد اقتصاد په ښه توګه مخ ته ځئ.

**د افغانستان کورني ناخالص تولید ته کتنه**

د افغانستان کورنی ناخالص تولید د څلورو سکتورونو څخه په لاس راځي چې عبارت دی له زراعتي سکتور، صنعتي سکتور، خدماتي سکتور او پر وارداتو باندی د مالیاتو سکتور. د

اداري(NSIA) د معلوماتو له مخې، په ۱۴۰۰ کال کې د افغانستان په کورني تولیدکې د کرنې سکتور سهم ۳۳.۵ سلنه، صنعت سکتور سهم ۱۵.۶سلنه، خدماتي سکتور سهم ۴۶.۵ سلنه او پر وارداتو باندې د مالیاتو سهم ۴.۴ سلنه وو.

د NSIA د ارقامو له مخې په ۱۴۰۰ کال کې د افغانستان مجموعي حقیقي کورنی

| د افغانستان په کورنیو ناخالص تولیداتو کې د سکتورونو ونډه | | | |
|---|---|---|---|
| سکتورونه | ۱۳۹۸ | ۱۳۹۹ | ۱۴۰۰ |
| زراعت | ۲۵.۸ | ۲۶.۸ | ۳۳.۵ |
| صنعت | ۱۴.۱ | ۱۴.۰ | ۱۵.۶ |
| خدمات | ۵۵.۵ | ۵۴.۷ | ۴۶.۵ |
| پر وارداتو باندې مالیات | ۴.۷ | ۴.۵ | ۴.۴ |

ناخالص تولید ۱۰۲۱۵۹۴.۶ میلونه افغانۍ، خو په ۱۳۹۹ کال کې۱۲۸۸۸۶۹.۴ میلونه افغانۍ وو. د یادو ارقامو له مخې د افغانستان د کورني ناخالص تولید د ودې کچه ۲۰.۷- سلنه وه، حال دا یاد رقم په ۱۳۹۹کال کې د ۱۳۹۸ کال په پرتله ۲.۴- سلنه او په ۱۳۹۸ کال کې د ۱۳۹۷ کال په پرتله ۳.۹ سلنه ثبت شوی وو.

| د افغانستان د کورنیو ناخالصو تولیداتو وده | | | |
|---|---|---|---|
| سکتورونه | ۱۳۹۸ | ۱۳۹۹ | ۱۴۰۰ |
| زراعت (کرنه) | ۱۷.۵ | ۵.۹ | ۲.۸- |
| صنعت | ۴.۸ | ۴.۶- | ۱۴.۲- |
| خدمتونه | ۱.۴- | ۵.۹- | ۳۲.۷- |
| پر وارداتو باندې مالیات | ۵.۷- | ۵.۳- | ۲۱.۰- |

| د افغانستان کورني ناخالص تولیدات (میلون افغاني) | | | |
|---|---|---|---|
| سکتورونه | ۱۳۹۸ | ۱۳۹۹ | ۱۴۰۰ |
| زراعت | ۳۷۶۰۷۶ | ۳۹۸۴۲۳ | ۳۸۷۱۳۵ |
| صنعت | ۱۶۲۷۹۴ | ۱۵۵۲۵۷ | ۱۳۳۲۳۳ |
| خدمتونه | ۷۲۰۶۴۶ | ۶۷۸۰۰۷ | ۴۵۶۰۵۲ |
| پر وارداتو باندې مالیات | ۶۰۳۸۶ | ۵۷۱۸۲ | ۴۵۱۷۴ |
| ټولیزه کورني ناخالص تولیدات | ۱۳۱۹۹۰۲ | ۱۲۸۸۸۶۹ | ۱۰۲۱۵۹۵ |

په ۱۴۰۰ کال کې د کورني ناخالص تولید د کموالي لاملونه عبارت دي له: د کال په لومړنیو میاشتو کې وچکالي، چې په باران تکیه فصلونه یې زیانمن کړل او د کرنې سکتور وده یې ټکنۍ کړه، د کرونا وبا د خپریدو د مخنیوي لپاره د بندرونو بندښت چې په پایله کې یې سوداګریز معاملات زیانمن کړل، د امنیتي ستونزو شتون،د نړیوالو له لوري د افغانستان د اسعاري زیرمو کنګل کیدل چې کورنۍ پانګونې یې زیانمنې او د بیکارۍ د رامنځته کیدو لامل وګرځیده چې په پایله کې یې ټولیزه تقاضا یا Aggregate Demand کم او د نورو سکتورونو سربېره یې خدماتي سکتور هم چې د افغانستان په کورني ناخالص تولید کې د زیات سهم درلودونکی دی،زیانمن کړ.

**لیکونکی: بصیراحمدحلیمي**
**د حقیقي سکتور ارشد مدیر**
**د پولي سیاست لوی آمریت**

ماخذونه:

۱- نړیوال وجهی صندوق یا IMF

۲- https://www.imf.org/en/Publications/fandd/issues/Series/Back-to-Basics/gross-domestic-product-GDP

۳- د افغانستان د احصائی او معلوماتو ملی اداره یا NSIA

۴- http://nsia.gov.af:8080/wp-content/uploads/2022/05/

۵- نړیوال بانک

۶- https://databankfiles.worldbank.org/public/ddpext_download/GDP.pdf



# نقش سرمایه گذاران

## کشور در بازسازی افغانستان پس از جنگ

رشد اقتصادی به زبان ساده به این مفهوم است که یک کشور میزان تولیدات اش نسبت به سال قبل افزایش داشته باشد. افزایش تولیدات یک کشور پس از جنگ،نسبت به سال قبل، همراه با افزایش تعداد افراد مورد نیاز برای کار در بخش اقتصادی افزایش یافته و وضعیت کارو بار در یک کشور بهبود می یابد.

در چنین وضعیت عرضه محصولات افزایش یافته، قیمت آنها کاهش می یابد. وقتیکه قیمت محصولات کاهش یافت، قدرت خرید مردم افزایش می یابد. در آن صورت است که مسئولان و تصمیم گیرندگان می توانند برنامه های را برای زیر ساخت های کشور، مانند سرکها، راه آهن، شفاخانه ها، مکتب ها، مدارس، مراکز آموزشی، کار خانه ها وغیره بسازند. این امر سبب افزایش اشتغال، کاهش تورم و توسعه اقتصادی می گردد.

بناءً، یگانه نیروی که می تواند در باز سازی افغانستان پس از جنگ، رول اساسی را داشته باشد، سرمایه گذاران است. سرمایه گذاران میتوانندبا سرمایه گذاری در بخش های مختلف اقتصادی

افغانستان پس از جنگ، نقش مهمی را در افزایش رشد و توسعه اقتصادی آن ایفاء نمایند.

زیرا آنها این توانایی را دارند که یک ترکیب خوبی از سرمایه، نیروی کار و استفاده از تکنالوژی جدید را ساخته و در پرتو آنها، بخش های مختلف تولید را درکشور به حرکت آورند. سرمایه گذاران می توانند در چنین وضعیت، با رونق دادن تولید و تجارت شان زمینه های بهبود سطح زندگی و رشد اقتصادی را درکشور فراهم آورند. در وضعیت فعلی، سرمایه گذاران می توانند باعث از بین بردن دور باطل فقر، توسعه نیافتگی، بیکاری گسترده، فقر اقتصادی و غیره شوند. در شرایط کنونی در افغانستان ریسک اقتصادی کاهش یافته، سرمایه گذاران این توانایی را دارند تا در بخش های مختلف مولد سرمایه گذاری کنند.

خوشبختانه،در شرایط کنونی، روز بروز موانع سرمایه گذاری در افغانستان شناسایی شده و با ارائه راهبرد های مناسب از ریسک سرمایه گذاری کاسته شده می رود. حاکمیت نظم و قانون، کاهش فساد، دستگاه های اداری پاسخگو، راه را برای سرمایه گذاری هموار ساخته است.

در حال حاضر، شرایط سرمایه گذاری در کشور روبه بهبود است، در شرایط کنونی زمینه سرمایه گذاری برای سرمایه گذاران داخلی و خارجی مساعد شده تا در افغانستان سرمایه گذاری نمایند. در صورت تمایل بیشتر سرمایه گذاران ملی و بین المللی در افغانستان، آنها می توانند منافع متقابلی را بدست آورند. اگر سرمایه گذاران با در نظر داشت شرایط فوق، در افغانستان سرمایه گذاری نمایند، تعداد مشارکت نیروی کار در تولید و خدمات بیشتر شده، رشد اقتصادی افزایش می یابد.

در شرایط کنونی در موجودیت سرمایه گذاری در کشور، ضرورت به مواد اولیه طبیعی بیشتر شده و بدون شک منابع طبیعی نقش اساسی و تعیین کننده را در صنایع مختلف کشور دارد. موجودیت یک منبع طبیعی جدید درکشور سبب تولید و خدمات جدید می گردد یا هم سبب قطع وابستگی واردات مواد اولیه از سایر کشور ها شده و کشور را بسوی تولید کالا ها و خدمات مشتق شده از مواد اولیه طبیعی سوق میدهد.

همچنان، در موجودیت سرمایه گذاری نیروی انسانی متخصص به کار گماشته شده این امر سبب افزایش تولید و خدمات مختلف می گردد. در چنین شرایط، در کنار استخدام نیروی انسانی ماهر، موضوع استفاده از تکنالوژی جدید به میان می آید. ممکن افغانستان سرمایه انسانی همراه با منابع سرشار طبیعی و منابع عظیمی از ایده ها و طرح های خوب در تولید انواع کالا و خدمات در ذهن خود داشته باشد.

لیکن در مقابل آن تنکالوژی جدید در اختیار نداشته باشد، دراین صورت نمی توان انتظار داشت که افغانستان بتواند در مسیر رشد پایدار قدم بگذارد. از طرف دیگر، یکی دیگری از پیامد های مهم سرمایه گذاری در افغانستان در شرایط کنونی افزایش تجارت است، زیرا توانایی افغانستان وابسته به برقراری ارتباط مؤثر با سایر کشور ها و افزایش حجم تجاری آن می باشد.

عبدالحفیظ شاهین


منابع:

۱-افغانستان؛ فرصت ها وچالش های سرمایه گذاری - خبر گزاری خاور middleeastpress.com

https://middleeastpress.com › economic

. ۲-تقریر: الاستثمار الأجنبی المباشر العالمی فی عام ۲۰۲۲ / iktissadkom.ma

/ تاریخ نشر ۲۲ / ۳ /۱۴۰۱ https://iktissadkom.ma › eco-world

۳- Post-Conflict Countries and Foreign Investment / https://collections.unu.edu › eserv › UNU:3066

# اقتصادي خبرونه

**اتحادیه صنعت و تجارت، نمایشگاه ده روزه یی فرآورده‌های داخلی را زیر نام "ارزان بازار" در منطقه ی تیمورشاهی کابل برگزار کرده است .**

برگزار کنندگان، هدف از راه‌اندازی این نمایشگاه را فروش محصولات با بهای ارزان نسبت به بازار عنوان می‌کنند.

نثار احمد بهبودی، مسوول برگزاری این نمایشگاه، به طلوع نیوز گفت: «هدف اصلی ما این است که بتوانیم کالا و محصولات که نمایندگی از کلتور و فرهنگ ما می کند و از جمله ارزش‌های کشور عزیز ما از ولایت‌های مختلف است، داشته باشیم و آن را صادر کنیم».

ولی گل، رییس امور کلتوری شهرداری کابل، در این باره گفت: «به نمایندگی از رهبری شاروالی کابل حمایت خود را از چنین برنامه‌ها اعلام می‌کنیم و از تاجران عزیز می‌خواهیم که بخاطر رفع مشکل مردم به ادارات ذیربط مراجعه بکنند.

در این نمایشگاه به شمول بازرگانان مرد، برخی از بانوان نیز شرکت کرده‌اند.

سمیرا، بازرگان، به طلوع‌نیوز گفت: «اگر دولت حامی ما باشد و حمایت کند، یک تغییر بزرگ در جامعه ایجاد می‌شود، مثلاً در پهلوی ما زنانی که در خانه استند، می‌توانند کار کنند».

از سویی هم، شماری از باشندگان کابل برگزاری همچون نمایشگاه‌ها را برای بلند بردن توان خرید مردم سودمند می‌دانند.

سید احمد شاه، باشنده کابل، در باره این نمایشگاه گفت: "مردم پول ندارند. باید همچون بازاری باشد که قیمت مناسب‌تر داشته باشد."

بیش‌از ۲۵۰ شرکت فرآورده های شان را در ۳۰۰ غرفه در این نمایشگاه به نمایش گذاشته‌اند .

**صنعت وزارت: په ۱۴۰۱ کال کې هند ته د افغانستان صادرات ډېر شوي**

د دې وزارت په وینا، افغانستان هند ته په ۱۳۹۹ کال کې د ۴۰۵ میلیونه ډالرو په ارزښت او په ۱۴۰۰ کال کې د ۳۱۱ میلیونه ډالرو په ارزښت توکي صادر کړي.

»

**د صنعت او سوداګرۍ وزارت وايي، له دريو کلونو راهيسې هند ته د هېواد د صادراتو په کچه کې ډېروالی راغلی او افغانستان په ۱۴۰۱ کال کې هند ته د ۴۱۷ ميليونه ډالرو په ارزښت توکي صادر کړي.**

له دې سره هم مهاله، د سوداګرۍ او پانګونې خونه وايي، هند د افغانستان د توکو لپاره يو ښه بازار دی.

د سوداګرۍ او پانګونې خونې غړی خيرالدين مايل وايي: «هند د افغانستان صادراتو لپاره ښه بازار دی او موږ له هند سره هر کال نږدې ۵۰۰ مېليونه ډالره صادرات لرو. په‌دې صادراتو کې وچه او تازه مېوه، طبي بوټي او نور توکي دي چې په هند کې ښه ځای لري».

بل‌خوا، يو شمېر سوداګر له اسلامي امارته غواړي چې د سوداګريزو اړيکو د زياتولو لپاره نورې اسانتياوې برابرې کړي.

سوداګر محبوب الله محمدي زياتوي: «هغه څه چې تر نن ورځې پورې يې د افغانستان د راکړې-ورکړې ستندرډ نه دی ترلاسه کړی، هغه د صادراتو لپاره د يوه منظم ميکانيزم نشتوالی او له نورو هېوادونو سره د ښو اړيکو د برنامې نشتوالی دی».

سوداګر زلمی عظيمي وايي: «له ماليې وزارت نه دا غوښتنه لرو چې د له هېواده بهر د پيسو د لېږد پر مهال د بانکونو فيس لږ راکم شي او په ميوند بانک کې چې زموږ پيسې بندې دي، ستونزه يې حل شي، ان‌شاء الله په راتلونکې کال کې به زموږ د صادراتو کچه يو پر دوه شي».

د صنعت او سوداګرۍ وزارت شمېرې ښيي چې په ۱۴۰۱ کال کې د افغانستان صادرات نږدې دوه مېليارډ ډالرو ته رسېدلي دي چې تر ټولو ډېر صادرات، پاکستان، هند، چين، متحده عربي اماراتو او ايران ته شوي دي. ●




# معرفی بورس و تاثیرات آن بر تجارت و اقتصاد

تعریف بورس:

برای تعریف بورس، به زبان ساده باید گفت بورس یک نوع بازار بوده که در آن دارایی های مختلفی مورد معامله قرار می گیرند. بازار بورس همچنین یک نهاد ساختار یافته است که به عنوان یکی از مهمترین ارکان اساسی بازار سرمایه نیز شناخته می شود. فلسفه کلیدی شکل گیری بازار بورس در جهان، تجمع سرمایه و تأمین مالی شرکت ها و پروژه های آن ها در قالب یک سیستم بازار منسجم، قانونمند، پیوسته و شفاف است، یا به عبارت دیگر گفته میتوانیم که بورس ارتباط بین سرمایه گذاران و سرمایه پذیران است. مبنای اساسی تشکیل این بازارها همان مفهوم اولیه و ساده شراکت، تقسیم سود و زیان احتمالی میان شرکا میباشد. بورس با تجمع سرمایه‌های جزئی و پراگنده، سرمایه‌گذاری‌های کلان را میسر کرده و در عین حال برای سهامداران منافع ایجاد می‌کند.

تاریخچه پیدایش بورس:

به اعتقاد اغلب کارشناسان، تاریخچه پیدایش واژه بورس به قرن پانزدهم میلادی بر می گردد. در آن زمان در شهر«بروژ» بلژیک در میدانی به نام تربورس در مقابل خانه اشراف زاده به نام «واندر بورس» تاجران، صرافان و کسبه کاران شهر جمع شده و به مبادله اسناد

تجاری و اوراق بهادار می پرداختند. به همین علت از آن تاریخ به بعد مکان‌هایی که مردم در آنجا اقدام به خرید و فروش اوراق بهادار، کالا وغیره می کردند به بازار بورس معروف شد. البته در آن زمان این مکان‌ها نظم و انضباط خاصی نداشتند و همه افراد می‌توانستند بدون محدودیت در آنجا فعالیت کنند اما به مرور زمان نظم و انضباط خاصی در این مکان‌ها حاکم شد به نحوی که پس از مدتی فقط تجار، صرافان و میانجی گران اجازه پیدا کردند تا در این مکان ها به خرید و فروش بپردازند. در گذر زمان تالارهای مسقف بورس شکل گرفت و تجار که پیش از آن در بازارهای بدون سقف و چهار دیواری خرید و فروش می‌کردند، برای خرید و فروش به این تالارها می‌رفتند. در بسیاری از منابع علمی و تاریخی زمان آغاز به کار تالارهای مسقف بورس را به عنوان تاریخ رسمی تاسیس بورس در دنیا معرفی می‌کنند. اولین بورس اوراق بهادار جهان در اوایل قرن هفدهم میلادی در شهر آمستردام هلند تشکیل شد و کمپنی هند شرقی اولین شرکتی بود که سهام خود را در آن عرضه کرد. فعالیت های مرتبط با بورس در شهر لندن نیز از اوایل قرن هجدهم میلادی و در قهوه خانه ها شروع شد. این فعالیت‌ها در سال ۱۷۷۳ میلادی و با خرید ساختمان مستقل توسط معامله‌گران وارد فصل جدیدی شد. در نهایت در سوم مارچ سال ۱۸۰۱ میلادی، بورس لندن فعالیت رسمی خود را آغاز کرد. اما تاریخچه تاسیس بورس نیویورک به عنوان سومین بورس بزرگ در گذشت تاریخ با سایر بورس ها متفاوت است. در سال ۱۷۹۲ بیست و چهار کارگزار بازار سهام در سرک وال استریت نیویورک و زیر درخت چناری دور هم جمع شدند و توافق نامه ای را امضا کردند که به توافق نامه «درخت چنار» مشهور شد. آنها در هشت مارچ ۱۸۱۷ با تنظیم اساسنامه‌ای، شروع به کار بورس نیویورک را رسمیت بخشیدند. با شروع فعالیت بورس‌های بزرگ جهان به تدریج سایر کشورهای در حال توسعه و پیشرفته نیز دارای بورس شدند تا جایی که امروز کمتر کشوری را میتوان یافت که بورس نداشته باشد. به نظر می رسد بورس‌ها و بازارهای مالی امروزه نقش مهمی را در عرصه اقتصادی کشورهای جهان ایفا می‌کنند و این سیر تکامل و توسعه بازارهای مالی همچنان ادامه خواهد داشت.

انواع بازار بورس:

بازار بورس به سه نوع یا دسته عمده تقسیم شده است؛ مانند بازار بورس کالا، بازار بورس ارز و بازار بورس اوراق بهادار که هریک آن طور مختصر ذیلاً تشریح میگردد.

**۱- بازار بورس کالا:**

قسمی که از نامش معلوم است، در بازار بورس کالا، کالاهای مشخص و فیزیکی بعد از بررسی و قیمت گذاری توسط کارشناسان بورس به فروش میرسد. در بازار بورس کالا مواد اولیه مورد نیاز صنایع و مواد خام بیش از همه به معامله گرفته میشوند. نا گفته نباید گذاشت که بازار بورس کالا همیشه و به طور مداوم فعال بوده و در آن کالا های مختلف به خریداران عرضه میگردد.

در بازار بورس کالا، هر بورس بنام کالای که در آن به معامله میرسد نیز شناخته میشود. طور مثال میتوانیم از بازار بورس نفت، گندم، برنج، پنبه و غیره نام ببریم. بخاطر کنترول هرچه بیشتر و بهتر بازار بورس کالا، یک سلسله قوانین و مقررات حاکم بر بورس توسط نهاد های نظارتی و تنظیم کنندگان بازار بورس نظارت میگردد که در نتیجه تولید کنندگان، مصرف کنندگان و تجار کالا از حضور تیم های نظارتی و تنظیم

کنندگان بازار از مزایای تطبیق یکسان قوانین و مقررات مربوطه مستفید میشوند.

**۲- بازار بورس ارز**

مانند معاملات بازار بورس کالا، معاملات بازار بورس ارز نیز مشخص بوده یعنی صرف خرید و فروش پول کشور های دیگر (ارز) در این بازار انجام میشود. بازار تبادله ارز یگانه و بزرگترین مارکیت مالی جهان میباشد که در آن قیمت اسعار خارجی تعیین و تثبیت می گردد. هدف عمده و اساسی بازار بورس ارز عبارت از تأمین نقدینگی بین المللی و تثبیت نرخ ارز میباشد.

**۳- بازار بورس اوراق بهادار:**

اوراق بهادار توسط دولت ها یا شرکت ها بخاطر به دست آوردن وجوه سرمایه گذاران برای مدت معین منتشر میشود، که در نتیجه سرمایه گذاران یا وام دهندگان در بدل پول شان برعلاوه مبلغ اصلی در آینده مفاد ثابت ماهانه، سه ماهه، شش ماه و حتی سالانه دریافت می نمایند.

بطور فشرده تر تاثیرات بازار بورس بالای اقتصاد عبارت اند از:

۱- بازار بورس از طریق جذب و بکار انداختن سرمایه های راکد حجم سرمایه را برای سرمایه گذاری در اقتصاد بالا میبرد.

۲- بازار بورس بین عرضه کننده گان و تقاضا کننده گان وجوه روابط را برقرار و معاملات بازار سرمایه را تنظیم می نماید، و همچنان با قیمت گذاری اسهام و اوراق بهادار تا حدی از نوسانات قیمت جلوگیری میکند.

۳- ازار بورس مردم را به پس انداز کردن تشویق نموده که باعث به کارگیری پس اندازهای مردم در فعالیت های اقتصادی میشود و سرمایه لازم را برای اجرای پروژه های خصوصی و دولتی فراهم میکند.

۴- بازار بورس سیالیت را در اقتصاد کنترول و یک فرصت سرمایه گذاری مطلوب را برای سرمایه گذاران کوچک ایجاد می کند.

۵- بازار بورس توزیع عادلانه ثروت را مهیا میسازد و نیز از جمله شاخص میزان اقتصادی هم بشمار میرود.

نویسنده: عبدالمتین باغبان

آفیسر ارشد احصائیه های حساب عواید و انتقالات

آمریت عمومی سیاست پولی

منابع:

1. https://khanesarmaye.com/what-is-stock-exchange/#gref
2. https://learning.emofid.com/the-birth-of-stock-exchanges-in-the-world
3. **https://learning.emofid.com/mercantile-exchange/**
4. https://www.heyvalaw.com/web/articles/view/3646/%D8%A8%D9%88%D8%B1%D8%B3-%D8%A7%D8%B1%D8%B2.html
5. https://donyayebourse.com/news/44974-%D8%A7%D9%88%D8%B1%D8%A7%D9%82-%D8%A8%D9%87%D8%A7%D8%AF%D8%A7%D8%B1-%DA%86%DB%8C%D8%B3%D8%AA%D8%9F-%D8%A7%D9%86%D9%88%D8%A7%D8%B9-%D8%A2%D9%86-%DA%A9%D8%AF%D8%A7%D9%85-%D8%A7%D8%B3%D8%AA%D8%9F

# د هیواد په اقتصادي پراختیا کې د نړیوالې سوداګرۍ ارزښت




د نړیوالې سوداګرۍ د رامنځته کېدو اصلي عامل د انسانانو اړتیاوې دي چې همدا د انسانانو اړتیاوې پوره کېدل له نورو هیوادونو سره سوداګریزې راکړې ورکړې رامنځته کوي، نو په همدې اساس که چېرته د انسانانو اړتیاوې شتون نه درلودلای نو نړیواله سوداګري به هم نه رامنځته کېده.

اصلاً د ګټې په موخه د توکو پېروپلور ته سوداګري وايي او یا ټولې هغه راکړې ورکړې چې په توکو یا پیسو ترسره کېږي سوداګري بلل کېږي.د توکو هغه پیروپلور، چې د یو هیواد دننه ترسره کېږي کورنۍ سوداګري بلل کېږي، خو هغه سوداګري چې د دوو یا څو هیوادونو ترمنځ ترسره کېږي نړیواله سوداګري ورته ویلای شو او یا هم د توکو هغه پیروپلور چې د یو هیواد له جغرافیې څخه بهر بل هیواد سره ترسره کېږي نړیواله سوداګري بلل کېږي.

نړیواله سوداګري د هیوادونو د کورنیو اړتیاوو د پوره کولو په برخه کې خورا ډېر ارزښت لري، همدا راز د ملتونو ترمنځ د ژوند د کچې لوړوالي په برخه کې، د کار موندنې، کار پنځونې، د قیمتونو ثبات ساتلو، د تخنیکي پوهې لوړولو، د سپما کچې لوړولو، د پانګونې په زیاتوالي، د تولیداتو د کمیت او کیفیت لوړولو، په ځان بسیاینې او نورو برخو او اړینو اقتصادي مسائلو کې ډېر

مهم رول لري.

د نړۍ په کچه ډېر اقتصاد پوهان پدې موافق دي، چې نړیواله سوداګري د ملتونو په بډاینه یا د ثروت په زیاتوالي کې مرسته کوي. د بیلګې په ډول: کله چې هم کوم سوداګر یا کوم شرکت توکي او یا نور سوداګریز خدمات له بل هیواد څخه پیري یا یې پلوري، همدا پیروپلور د دواړو هیوادونو د وګړو د ژوند معیار باندې خپله اغیزه لري. د نړیوالې سوداګرۍ په اړه یا دا چې ولې یو هیواد له نورو هیوادونو څخه توکي او یا خدمات تامینوي زیات دلایل شتون لري، چې لاندې ځو لاملونو ته یې اشاره کوو.

- **تولید:** دا چې ډېرى هیوادونه دا وړتیا نلري چې په کم مصرف سره تولید وکړي، نو له دې امله نړیوالې سوداګرۍ ته لار هواریږي.
- **د تولید عوامل:** د تولید په عواملو کې کاریګر، پانګه، ځمکه، د توکو او خدماتو تولید لپاره اومه یا اولیه مواد شامل دي چې په مختلفو هیوادونو کې په مختلفه بیه موجود دي.
- **د تولید بیه یا ارزښت:** د نړۍ هر هیواد هغه توکي او خدمات تولیدوي چې ارزانه او ګټور وي.
- **د طبیعي سرچینو ویش:** د نړۍ اکثره هیوادونه د طبیعي زېرمو له کمښت یا نشتون سره مخ دي، خو ترڅنګ یې نور هیوادونه له کافي تخصص څخه برخمن دي. له همدې امله هیوادونه کولای شي له خپلو سرچینو څخه اضافي تولید وکړي او د دې اضافي تولید لپاره له هیواده بهر له نورو هیوادونو کار واخلي.

نړیواله سوداګري د یو هیواد پر ځان بسیاینې او د اقتصادي ظرفیت لوړوالي ښکارندویه ده. له بلې خوا نړیواله سوداګري د نورو هیوادونو له تولیداتو سره د رقابت او د کورنی تولید د زیاتوالي ښکارندوینه هم کوي.

**د سوداګرۍ ډولونه:**

په عمومي ډول سوداګري په دوو برخو




ویشل شوي:

**د نړیوالې سوداګرۍ ګټې:**

د نړیوالې سوداګرۍ ګټې په لاندې ډول دي:

۱: په قحطۍ او کمښت باندې کنټرول راوستل: هیوادونه کولای شي د نړیوالې سوداګرۍ له طریقه د خپل هیواد قحطي او د موادو کمښت تر کنټرول لاندې ولري.

۲: د توکو موجودیت: د نړیوالې سوداګرۍ له طریقه هیوادونه کولای شي چې له نورو هیوادونو هغه توکي وپیري چې د هیواد په دننه کې نه پیدا کیږي یا یې له کمښت یا له نشتون سره مخ وي او یا یې هم په تولید ډېر لګښت راځي. د بیلګې په ډول افغانستان له نورو هیوادونو څخه د پیسو مقابل کې درمل واردوي او خپلې اړتیاوې پرې پوره کوي.

۳:د وسایلو ښه استعمال: هیوادونه خپلې سرچینې هغو تولیداتو او خدماتو ته ځانګړي کوي چې هغه هیواد پکې

مهارت لري تر څو وده وکړي او اضافي توليدات نورو هيوادونو ته ولېږي، او برعکس هغه اجناس او خدمات چې مهارت پکې نلري د نړيوال سوداګرۍ پر بنسټ يې له نورو هيوادونو څخه خپل هيواد ته را وارد کړي.

**۴: د زياتو پيداوارو کارول:** د نړيوالې سوداګرۍ له امله په يوه هيواد کې د زياتو پيداوارو د لاسته راوړلو په ذريعه د ټولني په عايد کي زياتوالى راځي که د ملکونو ترمنځ تجارتي ارتباطات نه واى نو د اضافه پيداوارو خرڅلاو به ناشونى وو.

**۵: د وروسته پاتې هيوادونو پرمختګ:** هغه هيوادونه چې په اقتصادي لحاظ وروسته پاتې خو د خامو موادو له اړخه غني وي، د همدې خامو موادو د پېر له طريقه کولاى شي د خپل د اړتيا وړ توکي وارد کړي او ترڅنګ يې د هيواد چټک پرمختګ او ودې په پار ترېنه ګټه پورته کړي.

**۶: درسم و رواج او کلتور څخه خبرتيا:** دنړيوالې سوداګرۍ له امله د هيوادونو تر منځ د راکړې ورکړې له امله د پانګوالو په منځ کي د ناستې پاستې موقع مساعدېږي د همدې کتنو له امله پانګوال د يو بل رسم و رواج، کلتور، مذاهبو، ژبو، علم او ادب سره اشنائي پيداکوي. او د دوی په مالوماتو کې زياتوالى راځي.

**۷: نهائي امن يا ارامتيا:** کله چې د هيوادونو تر منځ سوداګريزې راکړې ورکړې ترسره کېږي له همدې امله دا هيوادونه د يو بل پر وړاندې دجنګي صفونو له برابرولو څخه ډډه کوي، او په دې ډول سوداګري د هيوادونو تر منځ د نهايي سولې په راوستلو کي مهمه ونډه لري.

**۸: د بازار پراختيا:** په نړيوالې سوداګرۍ کې د توکو او خدمتونو راکړه ورکړه په لويه کچه صورت مومې نو له دې امله د توکو بازارونه پراختيا مومي.

**۹: د اجاره داری رول:** د بهرنۍ سوداګرۍ په شتون کې د کورنيو توکو له بهرنيو توکو سره سيالي وي. د دې سيالى له امله د اجاره دارانو د موجوديت امکان کم وي.

**۱۰: دکارونو موقع:** نړيواله سوداګري يا د هيوادونو ترمنځ راکړې ورکړې د دې لامل کيږی چې په هيوادونو کې د کارموندنې زمينه برابره شي.

**۱۱: ښه او معياري ژوند:** په نړيواله سوداګرۍ کې د ډيرو هيوادونو تر منځ سيالي کيږي هر هيواد خپل توليدات د نورو هيوادونو په بازارونو کې په خورا زياته کچه خرڅول غواړي چې له امله يې مصرف کوونکي هيوادونه د اړتيا وړ توکي په ارزانه بيه لاسته راوړي، چې په پايله کې يې د عامو خلکو د ژوند سطحه لوړېږي.

**د هيواد په اقتصادي پراختيا کې د نړيوالې سوداګرۍ ارزښت:**

ټول هيوادونه له سوداګرۍ څخه ګټه پورته کوي. دا سوداګري د وروسته پاتې هيوادونو او يا هم مخ پر ودې هيوادونو په اقتصادي پراختيا کې بنسټيز رول لري او په راتلونکي کې هم کولاى شي اغيزمن رول ولوبوي.

د ازادې سوداګرۍ د لېږې اصلاح او بدلون سره به د اقتصادي پراختيا لپاره ډيره زمينه برابره شي.

افغانستان چې خپل ډېر د اړتيا وړ توکي بايد له بهرنيو بازارونو څخه وارد کړي، کولاى شي له بهرنۍ سوداګرۍ څخه ډېره ګټه ترلاسه کړي. خو څرنګه چې تجربو ښودلې ده د بهرنۍ سوداګرۍ حجم او اهميت د عرضې او تقاضا په اندازې پورې تړاو لري. په اوسنيو شرايطو کې چې د ډېرو خلکو د پېرودنې توان محدود دي خو بيا هم داسې کسان شته چې د ځينو لګښتې

توکو د پیرودلو توان ورسره وي او دا حالت د هیواد د امنیتي او اقتصادي وضعیت په ښه کېدو سره زیاتېدای شي.

په اوسنیو شرایطو کې چې د هیواد بازارونه ډېر کم دي او کمه پراختیا یې کړې ده، نشي کولای ژر بهرنۍ پانګونې راجلب کړي. خو ازاده سوداګرۍ به د دې سبب شي تر څو دغه بازارونه پراختیا پیداکړي او پانګونه زیاته شي. له بلې خوا د کلاسیک اقتصاد د تیوریو په نظر کې نیولو (د آدم سمت د مطلقې لوړتیا له نظریې او د ریکاردو د نسبي لوړتیا له نظریې) سره افغانستان کولای شي استفاده وکړي. پدې معنا که چیرې د هیواد صنعتي فابریکو په وده او پراختیا باندې کار پیل کړي بیا به هم تر ډېرو کلونو پورې ونشي کړای د هیواد د میشتو خلکو لویې اړتیاوې پوره او نسبي ګټه لاس ته راوړي. خو لکه څنګه چې معلومه ده افغانستان یو کرنیز هیواد دی او د زراعتي توکو په تولید کې نسبي لوړتیا لري خو له بلې خوا بیا په اسیا کې ډېر ښه موقیعت لري چې د نړۍ له هیوادونو سره اړیکې ونیسي او په راتلونکي کې خپلو زراعتي تولیداتو ته وده او په صادرولو سره یې خپل د ضرورت وړ توکي لاس ته راوړي اوله سوداګرۍ څخه ګټه پورته کړي.

**پایله:**

نړیواله سوداګري په اقتصادي پرمختګ کې د ملي اقتصاد د نورو سکتورونو په شان فعاله ونډه لري. څکه چې دنړیوالي سوداګرۍ څخه چې کومې ګټې ترلاسه کیږي کیدای شي دیوه هیواد اقتصادي حالت نورهم قوي کړي. اوهیواد په هره برخه کي د اسانتیاوو څخه برخمن شي. همدارنګه د بهرنۍ سوداګرۍ په مرسته ټول هیوادونه خپل ضرورتونه پوره کولای شي، چې په دې توګه یو هیواد هغه څه چې زیاته اندازه لري اویا یې زیات تولیدوي نورو هیوادونو ته صادروي او هغه څه چې دوی یې تولیدولای نشي او یا زیات لګښت پرې راځي د نورو هیوادونوڅخه یې واردوي. هغه هیوادونه چې زیاتې بهرنۍ سوداګریزې اړیکي ولرې، د هغوی اکثره صادرات صنعتي توکي رانغاړي. همدارنګه بهرني سوداګري د هیواد په داخل کي د استخدام سطحه، او حکومت لپاره یوعایداتي مرجع ده. خو بالمقابل بهرني سوداګري زیانونه هم لري لکه د داخلي صنعتونو تباه کیدل، د بیکارۍ رامنځته کیدل، تولیدي ناورین...او نور، نودولت باید د بهرنۍ سوداګرۍ ګټې او زیانونه مطالعه کړي چې ګټه یې زیاته ده اوکه زیانونه یې زیات دي نو دولت باید بهرنۍ سوداګري په داسې شکل ومني چې فایدې یې د زیانونو په پرتله زیاتې وي او دولت باید پر بهرنۍ سوداګرۍ باندي تعرفي،...اونور بندیزونه ولګوي ترڅو داخلي صنعتونو لپاره مضر تمام نه شي او داخلي صنعتونه د خارجي هیوادونو د صنعتونو سره رقابت وکولاي شي. دولت باید داخلي صنعتونو څخه په کلکه ملاتړ وکړي او د وارداتي ګمرکي تعرفو کچه راټیټه کړي.


ترتیبوونکی: عبدالرحیم طوطاخیل

د مالي او پانګیز حساب د احصائیې مسؤل

د پولی سیاست لوی آمریت



**ماخذونه**

۱.نړیوال تجارت مونوګراف، لیکوال: محمد فرید (عاطف)، کال: ۲۰۱۷

http://www.yasa.co/international–trading/.۲

https://www.wasiweb.com.۳



# د بانکوالۍ ګټور او دودشوي اصطلاح ګانې

د بانکوالۍ دودشوي اصطلاحات هغه اصطلاحاتو ته وايي چې ډېرى وخت د بانکوالۍ په چارو کې کارول کېږي او د بانک کار کوونکو او پېرودونکو لپاره مهم ګڼل کېږي. په دې ليکنه کې د بانکوالۍ ځينو مروجو اصطلاحاتو باندې رڼا اچول شوې.

بانکي حساب : Bank Account بانکي حساب هغه مالي حساب دی چې د بانک يا بلې مالي ادارې لخوا ساتل کيږي چې د بانک او پيرودونکي ترمنځ مالي راکړې ورکړې پکې ثبتيږي. هره مالي اداره د هر ډول حساب لپاره، چې هغه يې وړاندې کوي، شرايط ټاکي. د بېلګې په توګه د امانتونو حساب، د کريډيټ کارت حساب، جاري حساب، د پور حساب او داسې نور. يو پيرودونکی ممکن له يو څخه ډير بانکي حسابونه ولري. کله چې يو بانکي حساب پرانيستل شي، د پيرودونکي لخوا مالي موسسې ته سپارل شوې پيسې پکې ثبتيږي .

جاري حساب :CURRENT ACCOUNT هغه حساب ته ويل کېږي چې پېرودونکي يې د خپلو امانتونو ساتلو لپاره په بانک کې پرانيزي. دا حساب دپېرودونکي او بانک تر منځ يو بانکي تړون دی. پېرودونکی کولای شي چې د حساب پرانيستلو څخه وروسته هر وخت چې وغواړي د اړتيا پر وخت د بانک څخه يو مقدار پيسې تر لاسه کړي. بانکي حساب د پيسو خوندي ساتلو لپاره يو باوري او محفوظ ځای دی.

کريډټ :CREDEIT کريډټ په بانکي حساب کې د پيسو جمع کولو په مانا دی، کله چې د پېرودونکي په بانکي حساب کې پيسې زياتې يا جمع شي نو دېته په بانکي نظام کې کريډټ وايي.

ډېبټ :Debit کله چې د بانکي حساب څخه پيسې وايستل شي يا د حساب څخه پيسې کمې شي نو بانکي حساب ډېبټ کېږي دې ته په بانکي اصطلاحاتو کې ډېبټ وايي.

بيلانس : BALANCE بيلانس په بانکي حساب کې موجود د پيسو فعلي مقدار ته ويل کېږي پېرودونکی کولای شي هر وخت چې وغواړي د خپل بانکي حساب بيلانس چيک کړي دا چاره په حساب کې د پيسو زياتولو يا له حساب څخه د پيسو ويستلو وروسته هم ترسره کېدای شي.

پور: LOAN پور هغه پيسو ته وايي چې پېرودونکی يې د بانک يا مالي مؤسسې څخه د قرض په توګه تر لاسه کوي. کله چې

بانک یا مالي مؤسسه خپل پېردونکي ته پیسې په پور ور کوي د بانکي قانون او اصولو په رڼا کې د دواړو ترمنځ د هغوی په خوښه یو تړون لاسلیکېږي. پېرودونکي ته د پور بیاادایني لپاره یو مشخص وخت ټاکل کېږي چې خپل پور بېرته بانک ته تادیه کړي. پور ورکوونکي ته د Lender او پور اخیستونکي ته د Borrower کلمه کارول کېږي.

ATM: د انګلیسي لغاتو Automated Teller Machine مخفف دی. دا د صرافی خپلکاره ماشین دی چې د بانک لخوا په لویو مارکیټونو او سترو پلورنځیو کې د پېرودونکو د اسانتیا لپاره ځای پر ځای شوي دي. د دې ماشین له لارې پېرودونکی کولای شي هر وخت چې وغواړي پرته له دې چې بانک ته مراجعه وکړي، د صرافی خپلکار ماشین څخه د ATM کارت له لارې پیسې ترلاسه کړي. د صرافی خپلکار ماشین کارت هغه کارت ته ویل کیږي چې د بانک لخوا خپل پېرودونکي ته ورکول کیږي. دا کارت له خلکو سره مرسته کوي چې هر وخت د اړتیا په صورت کې له ATM څخه پیسې ترلاسه کړي.

بانکي لګښتونه : Bank charges کله چې یو پېرودونکی د خپل حساب څخه پیسې وباسي او یا خپل حساب کې پیسې جمع کوي او یا د صرافی خپلکار ماشین څخه پیسې ترلاسه کوي، په دې چاره د بانک لخوا یو مقدار لګښتونه راځي چې دې Bank charges یا بانکي لګښتونه وایي. بانک دا لګښت پېرودونکي ته د خدمتونو وړاندې کولو له کبله د پېرودونکي د حساب څخه وضع کوي.

نمایندګي: BRANCH د بانک نمایندګی یا څانګې ته وایي چې د مرکزي دفتر سربېره د هېواد نورو سیمو کې د پېرودونکو د اسانتیاوو په موخه رامنځته کیږي ترسره خلک پرته له دې چې د بانک مرکزي دفتر ته مراجعه وکړي او د لرې واټن سفر وکړي، په خپله سیمه کې د بانک نمایندګی ته په ورتګ خپلې ستونزې حل او راکړې ورکړې، لېږدونې او حوالې ترسره کړي .

د زده کوونکي پور : STUDENT LOAN هغه پور ته وایي چې بانک یې خپل کارکوونکي یا پېرودونکي ته د زدکړو ترسره کولو لپاره تادیه کوي. د دغه پور ادایه د بانک او پېرودونکي ترمنځ یو بانکي تړون وي دغه تړون د دواړو خواوو په خوښه ترسره کیږي. پدې تړون کې د پور مقدار، شرایط او پور ورکولو موده ذکر شوې وي. کله چې د پور موده پوره شي زده کوونکی باید د بانک څخه ترلاسه شوی پور بېرته بانک ته ادا کړي .

چیک: Cheque چک هغه قانوني سند یا پاڼې ته ویل کیږي چې د بانک لخوا خپل پېرودنکي ته صادرېږي او پېرودنکی یې د خپل حساب څخه د پیسو ویستلو لپاره کاروي. په چک کې د پېرودونکي لخوا د پیسو مقدار، د چک وړونکي نوم، د بانکي حساب لرونکي لاسلیک، او نېټه لیکل کیږي. بانک د چک له مخې د چک حامل کس ته په چک کې ذکر شوی مبلغ ورکوي او د حامل څخه لاسلیک اخلي تر څو په چک باندې قانوني ډول اجراات تر سره شي پرته له لاسلیک څخه چک د منلو وړ نوي.

ډېټ کارت: Debit Card ډېټ کارت چې د چک کارت یا بانک کارت په نوم هم پیژندل کیږي د ادایني کارت دی چې د پیرودلو لپاره د نغدو پیسو پرځای کارول کیدای شي. د پیرودلو په وخت کې باید د کارت د خاوند په بانکي حساب کې پیسې شتون ولري چې سمدلاسه د هغه له حساب څخه مستقیم د سوداګر حساب ته لیږدول کیږي ترڅو د پیرودلو لپاره پیسې تادیه شي.

بانکي صورت حساب :STATEMENT بانکي صورت حساب یو سند دی چې معمولا د بانک لخوا هره میاشت حساب لرونکي ته استول کیږي چې د میاشتې په اوږدو کې د حساب د ټولو ترسره شوو معاملو لنډېز بیانوي. په دې کې د بانکي حساب معلومات لکه د حساب شمیره، د پیسو مقدار، او ویستل شوو یا په حساب کې د جمع شوو پیسو تفصیلات موجود وي. صورت حساب د پېرودونکي په غوښتنه د شپږو میاشتو یا له هغې زیاتې یا کمې مودې د ریکارډ مالومولو لپاره هم ترلاسه کېدای شي.

لیکنه : سیدخالد خالقیار

سرچیني:

۱- اصطلاحات رایج بانکی در زبان انگلیسی/https://rafieienglishclinic.com/articles

۲- /https://gosafir.com/mag/english-terms-at-bank

۳- https://tikkaa.ir/blog/banking

# مالي سیستم او بازارونو ته یوه لنډه کتنه



مالي سیستم هغه سیستم ته وایي چې د اقتصادي بازارونو ګډونوالو لکه پور ورکوونکو، پانګوالو او پور اخیستونکو ترمنځ د پیسو او پیسو او پور د تبادلې د امکان زمینه برابروي. د دې سیستمونو پلي کول په ځانګړې توګه په ملي او نړیواله کچه ترسره کیږي. په مالي سیستم کې هغو خلکو ته چې تمویل ته اړتیا لري او هغه خلک چې ډېره پانګه لري دواړو ته زمینه برابریږي چې پیسې یا پانګه سره تبادله کړي.

مالي سیستم د هېواد په اقتصادي پرمختګ کې اساسي ونډه لري. د ښه مالي سیستم په لرلو سره هېوادونه په آسانۍ سره کولای شي پرمختګ وکړي او هغه هېوادونه چې ښه مالي سیستمونه لري په اقتصادي لحاظ پرمختللي وي. مالي سیستم په هېواد کې حقیقي سکتور ته پانګه برابروي، چې پانګه په هېوادونو کې د پرمختګ اساسي عامل ګڼل کیږي، په ځانګړې توګه پرمختیایي هېوادونو ته یوه ښه مالي سیستم په هېواد کې ښه اقتصادي وده رامنځته کوي. اقتصادي پرمختګ او مالي سیستم یو بل سره تړلي دي، مالي سیستمونه کوچنۍ سپماوې راټولوي او په تولیدي برخه کې یې مصرفوي.

مالي بازارونه په پراخه توګه هر هغه بازار ته ویل کیږي چې د تضميناتو سوداګري پکې

ترسره کیږي چې پدې کې د ونډو بازار (Stock Market)، بانډ بازار، د فاریکس بازار، مشتق بازار، او داسی نور شامل دي.

مالي بازارونه د پانګوالو اقتصادونو د آسانه عملیاتو لپاره ډېر ګټور دي. مالي بازارونه د سوداګرۍ او متشبثینو د راکړې ورکړې په اسانه کولو کې مهم رول لوبوي. بازارونه د پیرودونکو او پلورونکو لپاره دا چاره اسانوي چې پر خپلو مالي ملکیتونو سوداګري وکړي. مالي بازار یو ډول د ونډو مارکیټ یا د ونډو بازار دی. مالي بازارونه د بېلابېلو مالي وسایلو لکه بانډونو، اسعارو او مشتقاتو د پېروپلور سره رامنځته کیږي. مالي بازارونه په پراخه کچه د مالوماتو په روڼتیا باندې ولاړ وي، ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې بازارونه هغه نرخونه ټاکي چې اغیزناک او مناسب وي. ځینې مالي بازارونه لږ فعالیت لري کوچني او نور، لکه د نیویارک د ونډو ایکسچینج (NYSE) چې هره ورځ د ټریلیون ډالرو په ارزښت د تضميناتو تجارت کوي، لوی ګڼل کیږي. د اسهامو یا ونډو بازار یو مالي بازار دی چې پانګوالو ته دا توان ورکوي چې د عامه سوداګریزو شرکتونو ونډې واخلي او وپلوري. د ونډو هر ډول راتلونکی تجارت په ثانوي بازار کې واقع کیږي، چې پانګوال پکې هغه تضمینات اخلي او پلوري چې دوی یې دمخه لري.

سپما کوونکي په دی هڅه کې وي چې خپلې سپما شوې پیسې په یو باوري ځای کې په خوندي ډول وساتي. مالي سیستم سپما کوونکو ته دا موقع ورکوي چې په مالي سیستم کې پانګونه وکړي. مالي سیستم په بازار کې بېلا بېل خدمتونه، شتمنۍ، مالي بازارونه او یو شمېر نورې اسانتیاوې برابروي تر څو سپما کوونکي په دې بازار کې پانګونه وکړي. دا ټول خدمتونه سپما کوونکو ته دا موقع ورکوي چې ډېره سپما او ډېره پانګونه وکړي تر څو ډېره ګټه ترلاسه کړي. مالي سیستم هم خوندي او هم ګټور دی په دې برخه کې چې څوک پانګونه کوي پانګونه یې نیمګړې نه وي څکه دلته پانګونه دقیقه، خوندي او د مسلکي خلکو له خوا ترسره کیږي.

مالي سیستم په دوامداره توګه سپما کوونکو ته د نوښتونو او مالي ټکنالوژۍ په پرمختګ سره پراخه موقع ورکوي چې په هره برخه کې وغواړي پانګونه وکړي .

مالي سیستم سپما کوونکو ته دا موقع ورکوي چې په خپلو سپما شوو پیسو په مالي اداراتو کې او یا هم په مستقیمه توګه پانګونه وکړي. مالي شتمني سپما کوونکي او په حقیقي سکتور کې پانګه اچونکي سره بیلوي. سپما میلونونه خلک ترسره کوي او یا هم د کورنیو له لوري ترسره کېږي چې امکان لري لږه وي او یا هم ډېره. مخکې له دې چې د کسر سکتور ته ورکړل شي دا ټولې سپماوې راټولې او یوځای کیږي. مالي سیستم په دې برخه کې ډېر ښه میکانیزمونه لري ترڅو په ډېر ښه ډول یې له سپما کوونکو څخه د کسر سکتور ته ولېږي. د سپما لیږد هغه وخت صورت نیسي کله چې د سپما پانګونه په مالي شتمنیو کې او یا هم په غیر مستقیم ډول په بانک یا یوې بلې اداري کې ترسره شي.

یوه ډېره اړینه او مهمه دنده چې مالي سیستم یې پر مخ بیایي هغه د پانګې یو ځای والی دی چې د ټولنیز تعادل په پام کې نیولو سره د پورونو لپاره راټولې او د پور ورکوونکو او بانکونو لخوا پورغوښتونکو ته برابرېږي خو ډېری وخت دا یو شمېر ستونزې لري. دا چې اوسمهال مالي پرمختیا او نوې مالي اداري، نوي مالي خدمتونه او نوې مالي شتمنۍ رامنځته شوې دي، د پورونو په برابرولو کې ډېرې اسانتیاوې راغلې دي .

د پانګونې لپاره د کورنیو لخوا سپما ډېره اړینه ده څکه چې کمپنۍ او پانګوال چې څومره سپما کوي هغه بسنه نه کوي، نو کله چې کورنۍ هم ورسره یو ځای شي، دا سپما په لویو سپماوو بدلیږي چې ورسره د پام وړ پانګه رامنځته کیږي چې بیا اقتصادي سکتور ته د پور په ډول ورکول کیږي .

د مالي بازارونو دندې په دو برخو کې خلاصه کولای شو:

**اقتصادي دندې:**

•دا بازارونه دا اسانتیاوې رامنځته کوي چې په حقیقي ډول اقتصادي سرچینې له پور ورکوونکو څخه پور اخیستونکو ته لیږدوي .

•پور ورکوونکي د خپلو پیسو په مقابل کې ګټه ترلاسه کوي چې د دوی عواید ورسره ډېرېږي او په ملي عاید کې ډېرښت رامنځته کیږي.

•پور اخیستونکي مجبور دي چې ترلاسه شوي وجوه په مناسبه او ګټوره توګه وکاروي چې له دې سره هم ملي عاید ډېرېږي.

•دا کانال دا زمینه برابروي چې د سپما څخه پانګه جوړه شي.

**مالي دندې:**

•پور اخیستونکي ته فنډ یا وجوه برابروي

چې خپل پلانونه پرې پلي کړي .

•پور ورکوونکي په مستقیم ډول نه غواړي چې په حقیقي سکتور کې پانګونه وکړي نو دا ورته ښه لاره ده.

•په بازار کې د نغدینګۍ ستونزه له منځه ځي او په اسانۍ سره کمپنۍ له بازاره نغدې پیسې ترلاسه کولای شي.

**د مالي سیستم ځانګړتیاوې:**

هر مالي سیستم باید لاندې ځانګړتیاوې ولري:

•د یو هېواد له کلتور او قوانینو سره باید په ټکر کې نه وي. هغه وسایل او خدمتونه چې د یو هېواد دننه په مالي سیستم کې ترسره کېږي، باید د هغه هېواد د خلکو کلتور او قوانینو او مقرراتو په رڼا کې ترسره شي. په ځانګړې توګه دیني عقایدو ته په کتو جوړ شي څکه که داخلي قوانینو ته پاملرنه ونشي نو پایښت به ونلري.

مالي سیستم له څلورو برخو جوړ شوی دی :

۱– مالي بنسټونه:

دا هغه اداري یا بنسټونه دي چې سپماوې یا وجوه له مازاد برخې څخه د کسر برخې ته لېږدوي چې کولای شو دا بنسټونه په قانون جوړونکو او قانون پلي کوونکو باندې وویشو. دا بنسټونه د سوداګریزو ادارو په څېر نه دي .

۲– مالي بازارونه :

هغه بازارونه چې هلته مالي شتمنۍ سره تبادله کېږي او کولای شو چې په د دوو لویو برخو یې وویشو؛ د پیسو بازار او د پانګې بازار. د پیسو بازار کې تمویل د کم وخت لپاره ترسره کېږي یانې له یو کال کم وخت لپاره؛ او په پانګییز بازار کې تمویل د اوږد مهال لپاره ترسره کېږي چې دواړه بازارونه یو ډول دنده ترسره کوي چې د مازاد برخې څخه د کسر یا هغه برخې ته چې اړتیا ورته لري، لېږدوي. پانګییز بازار په دوو ډلو سره ویشلی شو؛ لومړنی بازار، چېرته چې د مالي شتمنیو بیه ټاکل کېږي؛ او دویم بازار، چېرته چې مالي شتمنۍ څو ځله سره تبادله کېږي.

۳– مالي شتمنۍ یا وسایل:

هغه وسایل یا شتمنۍ چې په مالي بازارونو کې تبادله کېږي مالي شتمنۍ یا وسایل ورته وايي، چې په بېلابېلو بڼو شتون لري او د بازار د اړتیا له مخې رامنځته کېږي. د مالي شتمنیو بیې د قرارداد له مخې ټاکل کېږي مالي شتمنیو کې ونډې، تجارتي پاڼې، بانډونه او داسې نور شامل دي.

۴– مالي خدمتونه :

هغه خدمتونه چې د مالي سکتور په وسیله ترسره کېږي.

مالي بازارونه: کله چې مونږ د بازار په اړه فکر کوو نو یوه ځانګړې جغرافیه مو ذهن ته راځي چېرته چې خلک اجناس او خدمتونه تبادله کوي که څه هم دا د بازار په اړه کوچنی فکر دی. مالي بازار لکه د نورو بازارونو په څېر د دې آسانتیا برابروي چې خلکو سره مالي شتمنۍ تبادله کړي، یا د هغه میکانیزم یا ځای څخه عبارت دی چې خلک پکې مالي شتمنۍ پېري یا پلوري. مالي بازارونه د مالي شتمنیو د تبادلې آسانتیاوې رامنځته کوي چې دې شتمنیو ته مالي وسایل یا ارزښت لرونکې پاڼې ویل کېږي. مالي شتمنۍ د اجناسو او خدمتونو په څېر په مصرف نه رسیږي چې او ارزښت یې د یو قرارداد له مخې ټاکل کېږي.

**د مالي بازارونو رول:**

په نړۍ کې ټول هېوادونه د اقتصادي پرمختګ لپاره پانګې ته اړتیا لري چې په اقتصاد کې دا وجوه یا پانګه له سپما کوونکو یا مازاد برخې چې کېدای شي کورنۍ، انفرادي اشخاص، کاروباري اداري، عامه سکتور، مرکزي حکومت، سیمه ایز حکومت وي او یا نور... څخه را ټولېږي او یا اخیستل کېږي. مالي بازارونه په دی کې ډېر مهم رول لري چې سپما له مازاد سکتور څخه کسر سکتور ته لېږدول کېږي، او دې پروسې ته د لېږد میکانیزم وايي. په اقتصاد کې د مازاد وجوهو لېږد کسر برخې ته د ملي موخو او لومړیتوبونو د ترلاسه کولو لپاره ډېر اړین دي چې دا لېږد باید په سمه لار او ګټوره موخه ترسره شي، چې د دې لپاره باید مناسب وسایل او موقع شتون ولري. مالي بازار دا موقع برابروي چې مازاد سکتور خپل وجوه یا پانګه په مناسب او د خپلې خوښې ځای کې ولګوي. دا بازار هغه وخت ګټور وي چې وجوه په ښه ډول مدیریت شي. مالي بازارونه باید خلک اړ کړي چې تولیدونکي او متشبثین شي، او اداري او انفرادي خلک وهڅوي چې نوره سپما هم وکړي. مالي بازارونه یوازې دا نه چې صنعتي او اقتصادي پرمختګ کې مرسته کوي بلکې د ټولنې او د خلکو د ژوند کچه هم لوړوي. نو له دې کبله مالي بازارونه باید چټکه وده وکړي چې باید ډېر ګټور او متنوع وي. په خلص ډول ویلای شو چې مالي بازارونه د سرچینو په راټولېدو کې په اقتصاد کې اړینه برخه لري چې د ملي موخو په ترلاسه کولو کې اساسي رول لري.

**د مالي بازارونو ډولونه**

د ونډو بازار(Stock Market)

شاید د مالي بازارونو ترټولو پراخه د ونډو

بازارونه وي. دا هغه ځایونه دي چې شرکتونه پکې خپلې ونډې لیستوي او د سوداګرو او پانګوالو لخوا پېرودل او پلورل کېږي. د ونډو مارکېټونه، یا د مساواتو بازارونه، د شرکتونو لخوا د ابتدايي عامه وړاندیز (IPO) له لارې د پانګې راټولولو لپاره کارول کېږي. له هغې وروسته، د ونډو پېروپلور د بېلابېلو پېرودونکو او پلورونکو ترمنځ ترسره کېږي چې د ثانوي یا دویم بازار په نوم پېژندل کېږي. د ونډو پېروپلور په لیست شوي تبادلو کې ترسره کېږي، لکه د نیویارک ونډو ایکسچینج (NYSE) یا Nasdaq. د ونډو بازار په اقتصاد کې مهم رول لوبوي د اقتصاد د عمومي ښه والي د کچې په توګه او همدارنګه پانګوالو ته د پانګې او د ونډې عاید چمتو کوي.

د ونډو مارکېټ کې عادي برخه اخیستونکي لکه پانګوال او سوداګر، او منځګړي (Brockers) شامل دي. منځګړي (Brockers) د پېرودونکو او پلورونکو ترمنځ راکړه ورکړه آسانوي خو پخپله د ونډو بازار کې حقیقي برخه نه اخلي.

**د بانډ بازارونه (Bond Market)**

بانډ یو داسې تضمین دی چې پانګوال پکې د ټاکل شوي مودې لپاره د ځانګړې ګټې پر بنسټ پیسې پور کوي. د بانډ په اړه ویلای شو چې د پور ورکوونکي او پور اخیستونکي ترمنځ یو تړون دی چې د پور او د هغې اداینې پکې شاملې دي. بانډونه د شرکتونو او همدارنګه د ښاروالیو، ایالتونو او خپلواکو حکومتونو لخوا د پروژو د مالي تمویل لپاره صادرېږي. د مثال په توګه د بانډ بازار د متحده ایالتونو د خزانې لخوا صادر شوي نوټونه او بیلونه (Bill) او تضمینات پلورې. د بانډ بازار ته د پور، کریډیټ، یا ثابت عاید بازار هم ویل کېږي.

**د پیسو بازارونه**

معمولاً د پیسو بازارونه په محصولاتو کې سوداګري کوي چې د لوړې کچې خوندیتوب څخه برخمن وي. په دې بازارونو کې د عمده پلور په کچه د پانګوالو او سوداګرو تر منځ لوېې سوداګرۍ ترسره کېږي .

**مشتق بازارونه**

مشتق د دوو یا ډېرو ګوندونو تر منځ یو تړون دی چې ارزښت یې د توافق شوي مالي شتمنۍ یا د شتمنیو ټولګه ده. مشتقات ثانوي تضمینونه دي چې ارزښت یې یوازې د لومړني تضمین له ارزښت څخه اخیستل کېږي چې دوی ورسره تړاو لري. یوازې یو مشتق بې ارزښته دی. په مستقیم ډول د ونډو تجارت کولو پرځای، مشتق بازار د راتلونکي او اختیاري تړونونو او نورو پرمختللو مالي محصولاتو کې تجارت کوي، چې خپل ارزښت د بانډونو، اجناسو، اسعارو، د ګټې نرخونو، د بازار شاخصونو، او ونډو څخه ترلاسه کوي.

**د اسعارو د مبادلې بازار**

د فاریکس (د اسعارو مبادلې) بازار هغه بازار دی چې پکې برخه اخیستونکي کولای شي د اسعارو پېر، پلور، Hedging ترسره او د اسعارو د تبادلې نرخ وټاکي. د فاریکس بازار په نړۍ کې تر ټولو نغد بازار دی. د اسعارو بازار په ورځني معاملاتو کې له ۶.۶ ټریلیون ډالرو څخه ډېر معاملات کوي. د فاریکس بازار د بانکونو، سوداګریزو شرکتونو، مرکزي بانکونو، د پانګونې د مدیریت شرکتونو، او پرچون فاریکس بروکرانو او پانګوالو څخه جوړ دی.

**د توکو بازارونه**

د توکو بازارونه هغه ځایونه دي چې تولید کونکي او مصرف کونکي پکې فیزیکي توکي د پیسو په بدل کې تبادله کوي لکه کرنیز محصولات (د بیلګې په توګه جوار، څاروي، سویابین)، د انرژۍ محصولات (تیل، ګاز او داسې نور)، قیمتي فلزات (طلا، سپین زر، پلاټینم)، یا نرم توکي (لکه پنبه، قهوه، او بوره).

**د کریپټو کرنسي بازارونه**

په تېرو څو کلونو کې د کریپټو کرنسي معرفي او وده لیدل شوې لکه بیټکاین (Bitcoin) او ایتیریم (Ethereum). دا غیر متمرکز ډیجیټل شتمنۍ دي چې د بلاکچین ټیکنالوژۍ پر بنسټ کار کوي. نن ورځ، په زرګونو کریپټو کرنسي ټوکنونه شتون لري او په ټوله نړۍ کې د خپلواک آنلاین کریپټو تبادلو کې سوداګري کوي .

ژباړه: نصرالله ستانکزی

اقتصادي څېړونکی

د پولي سیاست لوی آمریت


سرچینه :

۱- https://corporatefinanceinstitute.com/resources/wealth-management/financial-markets/

۲- https://corporatefinanceinstitute.com/resources/wealth-management/financial-system/



# ګرانو هېوادوالو!

افغانۍ زموږ ملي ارزښت دی، دې ملي ارزښت ته درناوی زموږ د ټولو مسؤلیت دی، تر څو په ورځنیو پولي معاملو کې د افغانۍ د ښه ساتلو لپاره جیبي بکسې وکاروو.

# بانک

ماهنامهٔ د افغانستان بانک

سال شانزدهم شماره ۱۸۹ رمضان المبارک ۱۴۴۴ (حمل ۱۴۰۲)

## بهار بندگی
## و ماه رحمت و مغفرت
## مبارک باد

